د پوهنې وزارت

هیوادپالنه

اتم ټولګی

۱۳۹۸ هـ. ش.

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې
هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي
پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي
هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي
لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به
لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

هیوادپالنه

اتم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.ش.

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: هېوادپالنه

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د ټولنیزو علومو دیپارټمنت د درسي کتابونو مؤلفین

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ دیپارتمنت غړي

ټولګی: اتم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې يې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپېڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

فهرست

د لوست شمېره	سرلیکونه	مخونه
لومړی لوست	د لوی الله جل جلاله ستاینه	۱
دویم لوست	د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ستاینه	۳
دریم لوست	هېواد او هېوادپالنه	۵
څلورم لوست	ملي یووالی	۷
پنځم لوست	آزادي څه ته وایي؟	۱۰
شپږم لوست	ملي هویت	۱۳
اووم لوست	د اسلام له نظره هېوادپالنه	۱۶
اتم لوست	بیت المال او د هغه ساتنه	۱۹
نهم لوست	د ملتونو په پرمختګ کې د پوهنې ونډه	۲۱
لسم لوست	د کندهار امنیتي کمربند او د زرغونې انا درېځ	۲٤
یوولسم لوست	د شهیدانو یاد	۲۷
دولسم لوست	وطن وایي	۳۱

د لوست شمیره	سرلیکونه	مخونه
دیارلسم لوست	د هېواد اتل غازي محمد جان خان وردګ	۳۳
څوارلسم لوست	د آزادۍ او خپلواکۍ اهمیت	۳۵
پنځلسم لوست	د عینو کارېز	۳۷
شپاړسم لوست	فرهنګي میراثونه	۳۹
اوولسم لوست	د هېواد نوموړکي خدمتګاران	٤۳
اتلسم لوست	عبدالرحمٰن پژواک	٤٥
نولسم لوست	د هېواد پرمختګ د هر افغان هیله ده	٤۸
شلم لوست	غازي میر مسجدي خان	٥۰
یو ویشتم لوست	د هېواد ځینې پوهنپال واکمنان	٥۲
دوه ویشتم لوست	زغم او یو بل منل	٥٥
درویشتم لوست	د افغانستان جغرافیايي موقعیت او د هغه ارزښت	٥۷
څلورویشتم لوست	د شورا مقام او ګټې یې	٥۹
پنځه ویشتم لوست	د ګران هېواد د رښتینو خدمت کوونکو یاد	٦۱
شپږ ویشتم لوست	اسلامي وروروګلوي	٦٥
اووه ویشتم لوست	د چاپېریال ساتنه	٦۸
اته ویشتم لوست	د حکومت پر وړاندې د خلکو دندې	۷۱

د لوی الله ﷻ ستاینه

الله پاک ﷻ پر موږ بې شمېره پېرزوینې کړي دي. له دغو پېرزوینو څخه يې لومړۍ پېرزوینه دا ده چې انسانان يې پیدا کړي یو. په انسانانو کې يې بیا مسلمان پیدا کړي یو. اسلام د ځمکې پر مخ د آسماني ادیانو وروستی دین او قانون دی چې د نړۍ هېڅ قانون ورسره سیالي نشي کولای او نن سبا يې د ځمکې پر مخ شاوخوا (۱۷۰۰) میلیونو پورې خلک لارویان دي.

دا او دغو پېرزوینو ته ورته په زرګونو نورې پېرزوینې خدای پاک زموږ په برخه کړې دي. د دغو پېرزوینو په وړاندې باید د هغه پیرزوکوونکي او مهربان خدای ستاینه وکړو؛ هر کار د هغه ذات ﷻ په نامه پیل کړو؛ د هغه د قانون(اسلام) له مخې يې تر پایه پرمخ بوځو او د دغه کار په ترسره کولو کې يې مرسته وغواړو. موږ هم د هېواد پالنې د لوست کتاب د لوی خدای ﷻ په ستاینه پیلوو.

حمد

دا اغاز مې په نامه د هغه خدای دی
چې يې نوم ګره ګشای د شاه ګدای دی
د الله په نوم نو مړ هغه لایق دی
چې خالق په یوه کن د خلایق دی
دلالت دغه نامه په هغه ذات کا
چې یوازې بادشاهي د کاینات کا
نه يې مثل په جهان کې نه مثال شته
نه يې څوک په کاروبار کې سم و سیال شته
که تمام جهان مانع د یوه کار شي
چې دده په اراده کې نه وي نشي
که جهان واړه کافر یا مسلمان شي
نه يې سود په کار د چا شي نه يې زیان شي
سره ګلونه زرغونه وي په شنه ښاخ کې
شنه ګیاه خوري چینجي په سنګ لاخ کې
په صدف کې د اوبو خاځکی ګوهر کا
په رحم کې د نطفې قطره بشر کا
که نغمه د لااله الا الله ده
غربېدلې د غیرت په ګذرګاه ده

څرګندوني

د حمد ویونکی د پښتو ژبې لوی او ځلېدونکی ستوری، د دولسمې هجری پېړۍ شاعر، عبدالحمید مومند دی. عبدالحمید مومند د خپلې نازکخیالۍ او شعري ظرافت له مخې د(موشګاف) لقب ترلاسه کړی دی. همدا راز ځینې خلك ورته حمید مومند، حمید ماشوخېل، حمیدخان او آن حمید بابا هم وايي. د هغه شعرونه به تل د ادب په آسمان کې ځلېږي.

عبدالحمید مومند پورته حمد د اللهﷻ په سپېڅلي نامه پیل کړی دی. هغه يې د ټولو مخلوقاتو پیداکوونکی او د ټولو ستاینو وړ او لایق بللی دی. حمید مومند ټول کارونه د اللهﷻ په ارادې پورې اړوند بولي او د ټولو موجوداتو روزي رسوونکی يې یاد کړی چې په ځمکې، آسمانونو، سمندرونو یا د ډبرو دننه او بهر اوسېږي. د نړۍ ټول کارونه د هغه ذات په امر رامنځته کېږي او له منځه ځي. له دې امله یوازې هغه سپېڅلی ذات د ټولو ستاینو او صفاتو لایق دی او بس.

زده کوونکي دې په دووډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د کار په پیل کې د خدای پاك د نامه د یادولو او ستاینې په اړتیا او دویمه ډله دې((د الله تعالی د پېرزوینو)) یادونه وکړي او لنډیز دې يې د استازو په واسطه ټولګیوالو ته بیان کړي.

۱. حمد څه ته وايي او ولې باید هر کار د الله تعالی په نامه پیل کړو؟
۲. د لاندې بیت معنا په ساده نثر بیان کړئ.

کــه جهــان واړه کافــر یا مسلمان شي — نــه يې ســود پــه کار د چا شي نه يې زیان شي

۳. په کایناتو کې د الله تعالی د قدرت یوه بېلګه ووایاست.

زده کوونکي دې د لاندې شعر د مفهوم په پام کې نیولو سره یوه مقاله ولیکي.

کـــــه نغمــــــه د لااله الا الله ده
غـــرېدلې د غیـــرت پـــه ګذرګاه ده

د حضرت محمدﷺ ستاينه

حضـــرت محـــمدﷺ د الله ﷻ وروســـتى پيغـــبر دى. هغهﷺ بشپړ انسان او د ځکمې پر مخ د ټولو انسانانو لارښود و. د بعثت په نـــور يې د شـــرک، جهل او تورتم پردې له منـــځه يوړې.

له پيغمبرﷺ سره مينه او په کړنو يې عمل کول د هر مسلمان له وجايبو څخه ګڼل کيږي.

د لاندې شعر شاعر د نبي کريمﷺ ځينې صفات په خـــپله شاعرانه ژبه بـــيانوي.

نوی لمر د نبوت پر اســـمان راغـــی
چـې دوران د پـاک نبي پر جهـــان راغی

لکه وغـــوړيږي ګل پر ګلـــستان کې
وار له واره هسـې شکل خـــزان راغـــی

ســـتا د حسن تمـــاشا ته محـــمده
عـدن راغـی يمـــن راغی کنعـان راغی

خـــير دې ولاړو سمـــرقند او بـــخارا ته
چې بطي ســره محبوب د ســبحان راغـــی

پـه عراق او په حجاز کـــې آواز پـــريوت
چـې نبي آخـر زمان په ښـه شـــان راغی

نـــيک او بد حق او باطل ســره معلوم شو
دا پـر مـوږ باندې له ربه احـــسان راغـــی

د تورات، زبور، انجيل، خبـــرې پرېږده
چـې صاحـــب د مدينـې ته قـرآن راغی

بهايي جان رحمه الله

لنډیز

د اللهﷻ له لوري د وروستي پیغمبر په توګه د حضرت محمدﷺ بعثت یو ستر انقلاب او بنسټیز بدلون و چې انسانان یې د ژوند په ټولو برخو کې خیر او نیکۍ ته راوبلل. پیغمبرﷺ پر شرك او ناحقو معبودانو د بطلان کرښه را وکښله، د هغه پر ځای یې توحید او د یوه اللهﷻ عبادت ته خلك راوبلل.
حضرت محمدﷺ د علم او عدالت پر نور د ناپوهۍ او ظلم پردې څیرې کړې او بشریت ته یې سوله او امنیت ډالۍ کړ.
د ژوند په ټولو کارونو کې د پیغمبرﷺ لارویتوب او د هغه په لارښوونو عمل کول د نېکمرغۍ او سعادت یوازینۍ لار ده.
مسلمانانو ته خپل پیغمبرﷺ ګران دی. د نړۍ او اخرت د خیر او ښېګڼې د ترلاسه کولو لپاره په وروروڵۍ او یوه زړه هلې ځلې کوي.

فعالیت

ـ زده کوونکي دې د هغه ستر انقلاب او بدلون په اړه، چې د پیغمبرﷺ له بعثت وروسته په نړۍ کې منځته راغی، په ډله ییزه توګه په خپل منځ کې بحث وکړي.
ـ زده کوونکي دې په پنځو ډلو وویشل شي. هره ډله دې د داسې لسو کارونو نومونه ولیکي چې پکې د پیغمبرﷺ لارښوونې شوې وي.

کورنۍ دنده

د لوست له متن څخه په ګټې اخیستنې سره د هغه انقلاب او بدلون په اړه چې د پیغمبرﷺ له بعثت څخه وروسته د بشریت په ژوند کې منځته راغی، یوه مقاله ولیکئ چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

دریم لوست

هېواد او هېوادپالنه

ـ وطن یا هېواد څه ته وایي؟

ـ انسانان ولې له خپل هېواد سره مینه لري؟

ـ هېوادپالنه څه معنا او هېوادپال سړی کوم صفتونه لري؟

د دغه لوست په لوستلو به وکولای شو، پورتنیو پوښتنو ته سم ځواب ووایو.

هېواد د انسانانو د زوکړې او ژوند ټاټوبی دی، هلته خاپوړې کوي، لویېږي، له اوبو، هوا، خوړو او مېوو څخه یې د بدن غوښــه، هډوکي او وینه جوړېږي. له دې امله انسانان له خپل هېواد سره مینه لري او ساتي یې.

هېواد له مور ســره پرتله کوي، ځکه انســان له مور څخه پیداکېږي او د مور له وجود څخه نړۍ ته ســترګې پرانیزي. مور په خپلو شــېدو او د تن په غوښو د خپل اولاد پالنه کوي، خپله خوشحالي، هوسایي او راحت د هغه تر سر ځاروي.

هېــواد مــور ده، ځکه د مور او اولاد اړیکې لــه ډېرو قوي اړیکو څخه ګڼل کېږي. اولاد باید په هر حالت کې د مور حرمت وساتي او په ټول وس د هغې په چوپړ کې وي.

هېوادپالنه هغه عاطفه او احساس دی، چې انسان خپل هېواد او د زېږېدلو ځای ته راکاږي، له هغه ځای سره چې انسان پکې نړۍ ته سترګې غړولي او لوی شوی، مینه کوي.

د هېــواد له هــوا، اوبو، خوړو او مېوو او نورو نعمتونو څخه ګټه اخیســتل، ګڼ ژوند کول او نور د دې لامل کېږي، چې د انســان او هېواد تر منځ د زړه له کومې قوي اړیکه او عاطفه پیداشــي چې هېوادپالنه ورته ویل کېږي.

عاطفه او هېواد پالنه انســان دې ته هڅوي چې د هېواد او خلکو پر وړاندې ځان مسـؤول وګڼي او د وطن د مور د مادي او معنوي سوکالۍ او پرمختګ لپاره هڅه وکړي.
د اسلام دین د یو بشپړ نظام په توګه خیرغوښتني اوګټوروکارونو ته انسان رابولي او هڅوي. هېواد او هېوادوالو ته خیر رسـول، چې انسان ورسـره انساني، دیني او دګاونډېتوب اړیکې لري، د دغه ګټورتوب او خیر رسولو مهم جز دی، چې یو مسلمان انسان باید پر هغو پابند وي.

لنډیز

هېواد پالنه یوازې وینا نه، بلکې عمل دی. رښتیني هېوادپالنه داده چـې انسان باید د خپل هېواد د ودانولو لپاره هڅه وکړي او له هر ډول ورانۍ او زیان رسولو څخه یې مخنیوی وکړي. د خپلواکۍ، آزادۍ، ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه د هېواد پالنې له مهمو نښو څخه ګڼل کېږي. رښتینی هېوادپال هغه ځوک دی چې د هېواد له آزادۍ څخه د دفاع او ملاتړ په لاره کې هر ډول ځان تېرېدنې ته چمتو وي. مسلمان هېوادپال د خپل هېواد د مشروعو حقونو په لاره کې هڅه او هاند کوي.

فعالیت

زده کوونکي دې د هېواد په علمي او معنوي ودانولو کې د ښـوونځي د زده کوونکو د ونډې په اړه خپل اندونه یو له بل سره شریک کړي.

ارزونه

۱- د هېواد پالنې مفهوم بیان کړئ.
۲- ولې هېواد له مور سره پرتله کېږي؟
۳- د لوست له متن څخه په ګټه اخیستلو د یوه انسان د هېوادپالنې درې صفتونه بیان کړئ.
٤- یو مسلمان انسان ولې باید له خپل هېواد سره مینه ولري؟

کورنۍ دنده

په خپله سیمه کې د هغو کسانو نومونه واخلئ چې خپلې سیمې او هېواد ته یې د قدر وړ خدمتونه کړي وي.

ملي يووالی

ملي يووالی د ولسونو د پیاوړتیا نښه ده. هغه ملت چې غواړي قوي او سرلوړی وي، له یووالي پرته بله لاره نه لري. په دغه لوست کې د ملي یووالي د مفهوم او ارزښت او بې شمېرو ګټو په اړه مطلب لولو.

د ملي یووالي اصطلاح له دوو کلمو (ملي) او (یووالي) څخه جوړه شوې ده. یووالی د بېلا بېلو شیانو د یو ځای کېدو په معنا او د ملي کلمه، د ملت له ريښې څخه اخیستل شوې ده او هغه له دولت او هېواد سره د انسان اړیکې او پیوستون ښیي چې اوسېږي پکې او تابعیت يې لري.

ملت د هغو خلکو ټولګه ده چې د یوه دولت په منل شوو جغرافیایي بریدونو کې یوځای ژوند کوي. د دیني، تاریخي، فرهنګي او ټولنیزو ګډو منافعو ته د ژمنتیا پر بنسټ تر یوه بیرغ لاندې د یو هېواد د قومونو، نژادونو، ژبو او بېلابېلو سیمو د خلکو سوله ییز ژوند کولو ته ملي یووالی وايي.

د ملي یووالي مهمې موخې د لاندې چارو پلي کېدل دي:

- د هېواد یووالي او د خلکو دیني سپېڅلو ارزښتونو ته درناوی.
- آزادي، عدالت او له توکم پالنې او امتیاز پرته د قانون پر وړاندې د خلکو برابري.
- د فرد او ټولنې د اقتصادي سوکالۍ او نېکمرغۍ لپاره د ملت او حکومت ترمنځ په سیاسي اقتصادي او ټولنیزو چارو کې همغږي.
- د داسې اردو، پولیسو او مؤسساتو لرل چې د ټول ملت استازیتوب وکړي او ځانګړي قوم، نژاد او ژبې ته منسوب نه وي.

لاندې لاملونه د ملي یووالي د رامنځته کېدلو او پلي کېدلو لپاره اړین دي:

• د ګډ دین او عقیدې درلودل.
• د ټولنیزې روحیې شتون، یعنې هغه څه چې یو څوک یا یو قوم یې خپل ځان ته خوښوي، د بل چا او بل قوم لپاره یې هم خوښ کړي.
• د مشروعو او ګډو موخو شتون، چې د یوه هېواد ټول استوګن هغو موخو ته د رسېدلو لپاره ګډې هڅې وکړي.
• د قانون پر وراندې د هېواد د اتباعو ترمنځ عدالت او برابري او د هر ډول ظلم او ناروا له منځه وړل.
• د قانون په چوکاټ کې د خلکو لپاره د لازمو آزادیو رآمنځته کول.
• د خلکو د اقتصادي سوکالۍ او پرمختګ لپاره کار او زیار.
د اسلام دین د افغانستان د خلکو د وروري یا ملي یووالي بنسټ جوړوي. د ایمان او عقیدې رېښو زموږ ملت داسې سره یو موټی کړی چې هېوادوال مو د هېواد د خپلواکۍ او پرمختګ لپاره په یوه غږ کار کوي. د هر هېوادپال افغان دنده ده چې د ملي یووالي د ټینګښت لپاره له ټولو قومي، نژادي، ژبنیو او سیمه ییزو تعصبونو سره جهاد او مبارزه وکړي، ځکه قوت مو په ملي یووالي کې نغښتی دی.

لنډیز
قرآن مجید او د حضرت محمدﷺ ارزښتناک حدیثونه مسلمانانو ته په ملي یووالي امر کوي، د بېلګې په توګه، خدای پاک په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ﴾ یعنې، ټول د خدای پاک پر قانون منګولې ولګوئ او بې اتفاقي مه کوئ.
د افغانستان د اسلامي جمهوري نظام د اساسي قانون په څلورمه ماده کې د افغانستان ملت داسې تعریفوي: "د افغانستان ملت له هغو ټولو افرادو څخه عبارت دی چې د افغانستان تابعیت ولري، د افغانستان ملت له پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوچ، پشه یي، نورستاني، ایماق، عرب، قرغیز، قزلباش، ګوجر، براهوي او نورو قومونو څخه جوړ دی. د افغان کلمه د افغانستان د ملت په هر غړي اطلاق کېږي."

فعالیت

زده کوونکي دې په پنځه کسیزو ډلو وویشل شي. هره ډله دې د ملي یووالي د ګټو او د بې اتفاقۍ او اختلاف د زیانونو په اړه یو لست جوړ کړي. په پای کې دې یو یو زده کوونکی د خپلې ډلې په استازیتوب خپل چمتو کړی لست په ټولګي کې ولولي.

ارزونه

١- د ملي یووالي مفهوم بیان کړئ.

٢- د ملي یووالي مهمې موخې کومې دي؟

٣- کوم لاملونه د ملي یووالي د پیاوړتیا سبب کېږي؟

٤- د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون، ملت څرنګه تعریف کړی دی؟

کورنۍ دنده

د لوست د موضوع په اړه د خپل ګاونډ له روڼ اندو سره خبره وکړئ او په دې اړه د هغوی نظریات ولیکئ.

آزادي څه ته وايي؟

د آزادۍ کلمه مو ډېره اورېدلې او د دغې کلمې په اړه مو ډېر څه لوستلي او اورېدلي دي. پوهانو، شاعرانو او ادیبوهانو په خپلو آثارو کې آزادي ستایلې او د نړۍ ملتونو آزادۍ ته د رسېدلو او له هغې څخه د دفاع او ساتلو لپاره هر ډول قرباني ورکړې دي.

په دغه لوست کې به ولولو چې:

- آزادي څه ته وايي او آزاد ژوند څه معنا لري؟
-آزادي څو ډوله ده؟
- د یو ملت ازادي څه معنا لري؟
- د آزادۍ ګټې څه شی دي؟

د آزادۍ کلمه د یو کار د کولو او یا نه کولو د واک لرلو ته وايي. څرنګه چې خدای پاک، انسان ته عقل او اراده ورکړې، هغه کولای شي د یوه کار د کولو یا نه کولو لاره غوره کړي.

باید پوه شـو چې مطلقه آزادي د نړۍ په هېڅ ځای کې نشـته. شـریعت او قانون د آزادۍ بریدونه ټاکلي، ځکه د قانون ونډه د بشر د کړنو لپاره د بریدونو ټاکل دي.

بې قیده او شرطه آزادي او د قانون نشتوالی په ټولنه کې د اړو دوړ سبب کېږي او هېڅ عاقل انسان هغه منلای نشي.

د شـریعت او قانون سـم پلـي کول او د هغو تر سـیوري لاندې ژوند کول لـه آزادۍ څخه د ګټې اخیستلو تر ټولو ښه لاره ده.

آزادي د انســان له عقل او ارادې ســره تړاو لري او د انسان تر ټولو لويو انساني ارزښتونو څخه ګڼل کېږي. له معنوي چارو څخه، چې د انسان او حيوان ترمنځ بريد ټاکي، يو هم آزادي ده. له همدې امله څوک چې د آزادۍ په ارزښــت پوهېږي، په وږې ګېډه، لوڅ بدن او ســختو شرايطو کې ژوند کوي، خو د بل انسان تر لاس لاندې ژوند نه خوښوي.

آزادي د انســان د شــخصيت د ودې او بشــپړېدو لپــاره ډېره اړينــه ده، ځکه مرييتوب د انســان د اســتعدادونو د ودې او د هغه د شــخصيت د بشــپړېدو پر وړاندې خنډ ګرځي. همدغه مفهوم د ملتونو پر وړاندې هم رښتينی دی.

لکــه څرنګه چې آزادي د فرد لپــاره مهمه ده، د ټولنې او ملت لپاره هم مهمه ده. هغه ملتونه چې اســتقلال او آزادي نــه لري، خپل برخليک يې په خپل لاس کې نــه دی، په دې معنا چې خپله د هېواد د چارو په اړه پرېکړه نشي کولای.

لــه همــدې امله د نړۍ ملتونه د آزادۍ او اســتقلال لپــاره هر ډول قرباني ورکوي. د اســتقلال په نشتوالي کې ظلم او ښکېلاک د هغو ځای نيسي.

د افغانســتان مسلمان ملت د نړۍ له آزادو او آزادي غوښتونکو ملتونو څخه دی چې د خپل ژوند پــه پرتميــن تاريخ کې تل د پرديو د واکمنۍ پر وړاندې په مېړانه جنګېدلي او کله يې هم غلامي نه ده زغملې.

د آزادۍ او استقلال په نشتوالي کې د محکوم ملت ټولې مادي او معنوي پانګې د پرديو په اختيار کې لوېږي او پردي د محکوم ملت پر برخليک واکمن وي.

د پښتو ستر شاعر او وياړلي ليکوال، خوشحال خان خټک څه ښه ويلي دي:

ازادي تـــــر پـــــاچهيه لا تېــــرى کا
چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي

فعاليت

زده کوونکــي دې پــه څو ډلو کــې د آزادۍ د ګټو په اړه خبرې وکړي او هره ډله دې د آزادۍ د ګټو او مرييتوب د زيانونو په اړه لست جوړ کړي.

ارزونه

۱- د لوست د متن په رڼا کې د آزادۍ مفهوم بیان کړئ.

۲- ولې آزادي له مهمو انساني ارزښتونو څخه ګڼل کېږي؟

۳- د یو ازاد او تر استعمار لاندې ملت ترمنځ توپیر څه دی؟

٤- ولې ملتونه د آزادۍ او استقلال د لاسته راوړلو لپاره قرباني ورکوي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست د متن له مخې د آزادۍ او استقلال په اړه یوه مقاله ولیکي چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

ملي هویت

ملي هویت څه ته وايي؟
د ملي هویت په جوړښت کې کوم عناصر او لاملونه ونډه لري؟
د ملي هویت ساتل ولې د یوه ملت لپاره اړین ګڼل کېږي؟
په دغه لوست کې به هڅه وکړو چې پورتنیو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړو.

د یوه ملت هویت د هغه ملت ځان پېژندنه او په شعوري توګه د هرغړي له خوا دغو پوښتنوته ځواب ویل دي چې پخوا څـوک و او نن څوک دی. په بل عبارت د یوه ملـت ملي هویت د هغه ملت پرونی او ننني، دیني، فرهنګي، تاریخي، ټولنیز، جغرافیايي او سیاسي دریځ روښانوي.

د یـوه ملـت د پېژندلو بنسـټیز عناصر او ملي هویـت د هغه ملت دین، فرهنـګ، تمدن، تاریخ، جغرافیــه، ټولنې او سیاسـت ته ویل کېږي. په دې معنا چې یادشـوي عناصـر د ملتونو د هویت په جوړښت کې اړینه ونډه لري، د ملتونو په رښتیني پېژندلو کې مرسته کوي او د نړۍ د نورو ملتونو په منځ کې د هغه ملت ځای په ګوته کوي.

کـه وغواړو د افغانســتان ملي هویت وپېژنو او د یوه ملت په توګه د نـړۍ د نورو ملتونو په منځ کې خپـل ځای پیدا کـړو، اړینه ده چې ترهرڅه مخکې دخپل ملت له دین، فرهنګ، تاریخ، تمدن، جغرافیايي موقعیت، له پخواني او اوسـني ټولنیز او سیاسي موقعیت څخه معلومات ولرو یا په بله وینا له خپل پرون او نن څخه سم معلومات ولرو.

د یادو شـویو مطالبو په پام کې نیولو سـره ویلای شو چې د اسلام مبین دین په خپلو لوړو عقایدو، لارښـوونو او انسـان جوړوونکو ارزښتونو د افغانستان د ولس د ملي هویت لومړنی او تر ټولو مهم

عنصر جوړوي، څکه زموږ خلك د اسـلام له پيل راهيسـې پر دغه دين مشـرف شـوي دي. او اسـلامي زده کړې او ارزښـتونه د خلکو په عقايدو، اخلاقو، فرهنگ، تاريخ او ټولنيزه سياسـي اوضاع کې داسې سره گډ شوي چې له اسلام او مسلمانۍ پرته د افغانستان د ولس لپاره بل هويت نشو پيداکولای.

د افغانستان د خلکو د ملي هويت د اسلامي عنصر سيوری داسې پراخ دی چې زموږ د ملت ټولې پرگنې تر هغه لاندې راټولې شـوي. د يوې بشـري کتلې په توگه گډه تاريخي، فرهنگي، ټولنيز او جغرافيايي مخينه لري او د يو واحد او يوه موټي ولس په توگه څرگندېږي.

دا هـم بايد په پام کې ولرو چې اسـلام زمـوږ ولس ته له زمان او مکان پرتـه د تلپاتې ځانگړتياوو پربنسـټ، ژور تاريخـي هويت ورکړی او د هغه پياوړتيا، تداوم او تسلسـل پـه راتلونکې زمانه او نسـلونو کې سـاتي، په دې معنا چې د ژبې، سيمې، قوم او... اختلاف نشي کولای د دغه ملت د خلکو ننني او سبانۍ وروړگلوي ټکنۍ کړي.

له اسلام وروسته تاريخی، فرهنگي، ټولنيز، جغرافيايي موقعيت او ټولنيز حالت هم زموږ د خلکو د ملـي هويت په جوړښـت کې ونـډه لري؛ په دې معنا چې پورتني گـډ او يو خپل توکي د نړۍ د ملتونو په منځ کې د افغانستان د ملت ځای په گوته کوي.

د افغانسـتان ټول پخواني اساسي قوانين او د افغانستان د اسلامي جمهوريت اوسنی اساسي قانون زموږ د هېواد پر اسـلامي هويت ټينگار کوي. زموږ د اساسـي قانون په دويمه ماده کې راغلي: "د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دين د اسلام سپېڅلی دين دی"

د افغانسـتان د اسـلامي جمهوريت د اساسـي قانون درېمه ماده زموږ د هېواد پر اسـلامي هويت پرټينگار په صراحت حکم کوي چې په افغانستان کې هېڅ قانون د اسلام له احکامو او ارزښتونو سـره مخالفت نشـي کولای. په افغانستان کې هېڅ قانون نشـي کولای د اسلام د سپېڅلي دين د عقايدو او احکامو مخالف وي. له اسـلام وروسـته افغانيت د افغانستان د ملي هويت دويم عنصر دی.

د اساسـي قانون څلورمه ماده زموږ د هېواد د قومونو له يادولو وروسـته د افغانسـتان د ملت افغاني هويت داسې بيانوي: "د افغانستان د ملت پر هر غړي د افغان کلمه اطلاق کېږي."

ملي هويت د يو ولس د بيداری نښـه او د قوت او يووالي راز دی. موږ د يو خپلواک ملت په توگه په خپل اسلامي او ملي هويت وياړو او د خپل ځان په شان د خپل ملي هويت ساتنه کوو.

فعالیت

زده کوونکي دې په پنځه کســیزو ډلو ووېشــل شي او د افغانستان د خلکو د ملي هویت په اړه دې په خپلو کې خبرې وکړي.

ارزونه

۱- د ملي هویت مفهوم بیان کړئ.

۲- ملي هویت له کومو عناصرو جوړېږي؟

۳- د افغانستان د ملت د ملي هویت څه شی دی؟

٤- د افغانســتان د اســلامي جمهوریت اساســي قانون زموږ د هېواد او خلکو د ملي هویت په اړه څه وایي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د اساســي قانون دویمه، دریمه او څلورمه ماده په یاد کړي او د افغانســتان د ملي هویت د عناصرو او ارزښت په اړه دې یوه مقاله ولیکي چې ترلسو کرښو لږه نه وي.

اسلام او هېوادپالنه



انسان په فطري توګه له خپل هېواد سره مينه لري. اسلام د فطري دين په توګه د انسان ټولو طبيعي غوښتنو ته پاملرنه کړې او د هغو د مثبتې ودې لپاره يې نظام او چوکاټ جوړ کړی دی.

په دغه لوست کې د هېواد پالنې د فطري احساس په اړه د اسلام دريـــځ مطـالعه کوو.

د هېواد په اړه د اسـلام نظر تر هغه څه په وار وار پراخ دی چې د انسـان په فکر کې دی. اسـلام په دغه مهم حقيقت ټينګار کوي چې ټول انسانان د يوه پلار او مور اولادونه دي. الله تعالی ځمکه د انسانانو د ژوند لپاره پيدا کړې او دنده يې ورته سپارلې، چې د ځمکې د ودانولو لپاره هڅې وکړي. لـه دې املـه له څو لوريو بايد دغــې موضوع ته وګورو. له يوه نظره، ټوله ځمکه انسـان ته د هېواد حيثيت لري. مسـلمان انسـان له خپلې ځمکې او چاپېريال سـره د الله ﷻ د لويو نعمتونو په توګه اړيکې ټينګوي او د ځمکې د ودانولو او د خلکو د خير غوښتنې او بریالیتوب لپاره هڅه کوي.

دويم نظر دا دی چې د مسلمانانو هېواد له هغه خاورې څخه عبارت دی چې ډېر اوسيدونکي يې مسـلمانان وي. مسلمان انسـان د ايمان د غوښتنې له مخې له نورو اسلامي هېوادونو سره د زړه له کومې مينه لري. د هغه هيوادونو د اوسيدونکو د سوکالۍ او پرمختګ او د کورنيو او بهرنيو د دفاع په موخه مرسته خپله شرعي دنده وبولي.

دريم نظر دا دی چې هېواد د اسلام له مخې هغه ټاکلې سيمه ده، چې د انسان د زوکړې او دايمي اسـتوګنې ځای وي. مسـلمان د نړۍ ټولو وګړو ته د خيرغوښـتنې او له اسلامي امت سره د مينې ترڅنګ د خپلې سيمې د ودانۍ او پرمختګ ته د لومړيتوبونو په سر کې ځای ورکوي او د زړه له

کومي ورته کار او خدمت کوي.

د هېواد پالنې ربښتینې معنا د هېواد د خیر او سلامتۍ او پرمختګ لپاره هڅه کول دي. رسول اللهﷺ د خپلې استوګنې د ځای، یعنې له مکې معظمې سره ډېره مینه لرله او د هېواد پالنې مینه یې په احساساتو کې لیدلای شو. کله چې حضرت محمدﷺ د قریشو د مشرکینو د تېرې او ناروا له امله هجرت او د خپل وطن او د زېږېدلو د ټاټوبي پرېښودلو ته اړ شو، په هغو شېبو کې چې مکه معظمه یې پرېښودله، سترګې یې له اوښکو ډکې وې، ویې فرمایل: ((ای مکې، ته ماته د الله ﷻ ډېره ښه او ګرانه ځمکه یې، که ستا اوسېدونکو زه نه وای بهر کړی، نو هېڅکله به هم له دغه ځایه نه وای تللی.))

د رسول اللهﷺ په دغه وینا کې د هېوادپالنې تر ټولو پاک او نازک احساس ځلېږي. همدا راز کله چې حضرت محمدﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ او هغه ځای یې د دایمي استوګنځي په توګه وټاکه، دعا به یې کوله چې الله ﷻ دې مدینه هم د مکې په شان موږ ته ګرانه کړي. د بخاري شریف په یو حدیث کې رسول اللهﷺ فرمایي: ((اللهم حبب الینا المدینة کحبنا مکة او اشد... .)) یعنې ای خدایه، مدینه راته لکه مکه او تر مکې هم ډېره ګرانه کړې. همدا راز حضرت محمدﷺ دعا کوله، چې الله تعالی په مدینه منوره کې برکت واچوي.

په بل حدیث کې راغلي چې حضرت محمدﷺ د مدینې د خرما د پخېدلو په پیل کې داسې دعا کوله: ((اللهم بارک لنا في مدینتنا و في ثمارنا...)) یعنې، ای الله، زموږ په مدینه او د مدینې په مېوو کې برکت واچوه.

د حضرت محمدﷺ په دغو ویناوو کې د هېواد او د زېږېدلو له ځای سره پاکه مینه او ګرانښت نغښتی دی. که د رسول اللهﷺ دغه احساسات او ویناوې له یوې خوا د یوې پاکې انساني عاطفې ښکارندوی دي، له بلې خوا د هر مسلمان لپاره یو پیغام دی، چې باید له خپل هېواد او استوګنځي سره مینه ولري او خیر غوښتونکی یې وي.

هېوادپالنه یوازې احساس او شعار نه دی، بلکې باید دغه احساس او شعار د هېواد د استقلال او مادي او معنوي پرمختګ لپاره په کار او عمل بدل شي. ربښتینی مسلمان، زموږ د ګران پیغمبر حضرت محمدﷺ په څېر له خپل هېواد سره مینه لري او د هغه د خیر او سلامتۍ لپاره د یو دیني رسالت او مسؤولیت په توګه هڅه او هاند کوي.

افغانستان زموږ هېواد دی او د هغه د لوړتیا او پرمختګ لپاره کار او جهاد او له هغه څخه ملاتړ د هر مسلمان افغان شرعي دنده ده.

فعالیت

زده کوونکي دې په دې اړه چې (ښه مسلمان باید هېوادپال واوسي) پخپلو کې خبرې وکړي.

ارزونه

۱- ولې ټوله ځمکه انسان ته د هېواد په شان وي؟

۲- ولې مسلمان له اسلامي هېوادونو سره مینه لري؟

۳- د لوست حدیثونه د مسلمان لپاره څه پیغام لري؟

٤- د هېواد پالنې رښتینې معنا څه ده؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست احادیث په یاد کړي، د یوه هېوادپال مسلمان د خویونو په اړه دې یوه مقاله ولیکي چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

بيت المال او د هغه ساتنه

پانګه او شتمني د الله ﷻ له نعمتونو څخه يو نعمت دی او د انسان په فردي او ټولنيز ژوند کې مهمه ونډه لري. يو ډول مال او پانګه په يو شمېر افرادو پورې اړه لري او د هغوی شخصي ملکيت بلل کېږي. بل ډول شتمني او پانګه په ټول ملت پورې اړه لري او د يو ټاکلي شخص ملکيت نه وي، خو ګټه يې د ټولنې ټولو غړو ته رسېږي.

دغه لوست د عامه ګټو او د هغو د ساتلو د ارزښت بيانولو ته ځانګړی شوی دی.

بيت المال يوه اسلامي اصطلاح ده چې د عمومي اموالو او پانګو د ساتلو ځای ته وايي. د اسلام په لومړيو او د راشدو خليفه ګانو په پېرکې د عمومي مالونو او پانګو يا دولتي اموالو د ساتلو ځای ته (بيت المال المسلمين) ويل کېدل. وروسته دې اصطلاح په لنډ ډول د بيت المال په نامه شهرت وموند.

عمومي ملکيتونه يا بيت المال د ټولو خلکو مال دی او د فرد يا ټاکلو افرادو شخصي ملکيت نه ګڼل کېږي. په بل عبارت په بيت المال کې د هېواد ټول غړي حق او ونډه لري. بودجه او د دولت د پيسو خزانې، مالونه او دولتي ځمکې، غرونه، ځنګلونه، پارکونه او د تفريح او لوبو ځايونه، معدنونه او طبيعي پانګې، لارې او سړکونه، دولتي ودانۍ، دولتي ترانسپورتي وسايل، لکه موټر، الوتکې او... ټول د بيت المال مالونه دي.

د اسلام د مبين دين له نظره بيت المال د امانت حيثيت لري او لازم دی چې چارواکي بيت المال په بشپړ امانت وساتي او پرې نږدي له هغو څخه ناوړه ګټه واخيستل شي.

د بيت المال له مالونو څخه ګټه اخيستل بايد د هغو اصولو او ظوابطو په چوکاټ کې ترسره شي چې د اسلامي شريعت او د هېواد د نافذو قوانينو له خوا ټاکل شوي دي.

اسلام پر ټولګټو پانګو او مالونو (بیت المال) باندې تېرى کول حرام ګڼلى او له هغو څخه ناروا ګټه اخیستل یې په هره بڼه چې وي، منع کړي دي. د بېلګې په توګه څوک حق نه لري له دولتي امکاناتو او موټرو شخصي ګټه واخلي او دولتي ونې او ځنګلونه چې د ټول ملت مال دی، پرې کړي او یا یې وپلوري او یا کانونه او طبیعي زېرمې په خپل سر راوباسي او مصرف یې کړي.

همدا راز خزانه او دولتي بودجه باید په داسې ځایونو کې مصرف شي چې ګټه یې ټولو خلکو ته ورسېږي. له عمومي پیسو او بودجې څخه غیر شرعي ګټه اخیستل یو ډول خیانت او اختلاس دی چې حرام او ناروا ګڼل کېږي.

باید پوه شو چې د هېواد اقتصادي قوت تر ډېره له عمومي پانګو او بیت المال څخه په سمو ګټو اخیستلو پورې تړاو لري.

د ښوونځیو، دولتي دفترونو، روغتونونو، لویو لارو، د اوبو او برېښنا بندونو جوړول، د معارف د کتابونو چاپول، د دولتي مامورینو او اجیرانو معاشونه، له اړو کسانو سره مرسته او... د هېواد له بیت المال څخه پوره کېږي.

موږ دنده لرو د بیت المال شتمني د شخصي مالونو په څېر وساتو او پرې نږدو چې ملي پانګې او شتمني بې ځایه لاړې شي او یا په ناروا توګه ترې ګټه واخیستل شي.

فعالیت

زده کوونکي دې د ټولګټو شتمنیو یو لست جوړ کړي.

ارزونه

۱- بیت المال څه ته وایي؟

۲- د بیت المال مالونه د چا ملکیت دی؟

۳- آیا له بیت المال څخه شخصي ګټه اخیستل روا دي؟

٤- اختلاس ولې ناوړه عمل ګڼل کېږي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د بیت المال د ساتنې په اړه مقاله ولیکي چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

نهم لوست

د ملتونو په پرمختګ کې د پوهنې ونډه

پوهنه له ایمان وروسته د ولسونو د پرمختګ بنسټ جوړوي. هېڅ ولس د علم له څېړنې او نوښت پرته د پوهنې په مختلفو ډګرونو کې پرمختګ نشي کولای.

ددغه لوست متن د شعر په فصیحه ژبه د ولسونو د پرمختګ علت او سبب بیانوي.

علم او پوهه

بې له علمه به څه غواړې په دنیا څوک — که عاقل وي که هوښیار وي که دانا څوک
تر دې شه متاع په دې دکان کې نشته — سود به وکا که کوي دغه سودا څوک
درست جهان قربان د علم تر ګوهر شه — دغه وایم که مې وپوښتي رښتیا څوک
علم سل خرواره ثقل په هوا کا — درواى شي یوه بڼه په هوا څوک؟
مجهولات به د عالم ورته معلوم شي — که دعلم له مضمونه شي جویا څوک
تر قیامته خرابي پرې اثر نه کا — که د علم پر بنا کېږدي بنا څوک
په دنیا دى هغه قصر بې قصوره — چې د علم پر قرار یې کړي برپا څوک
چې د علم د طبیب دارو ونه خوري — له مرض د جهل نه مومي شفا څوک
په جهان کې به غالب پر هر دښمن شي — که د علم توره وتړي تر ملا څوک
که بلا ده په جهان کې بې علمي ده — خداى دې نه کا مبتلا په دا بلا څوک

په حکمت سره د خپل ملت غمخور شه باري نه لري د بل ملت پروا څوک
چې د فکر باريکي نه لري وروره څه په کار ده که لري باريکه ملا څوک
هرګز نه لري زوال دولت د علم دا دولت له چا نه، نشي وړای په غلا څوک
که د خپل ملت پخپله غمخور نشې هرګز نه کا په پردي مړي ژړا څوک
هر ملت چې وي بې علمه نابينا وي
باري مه شه په جهان کې نابينا څوک ...

(عبدالعلي مستغني)

لنډيز

عبدالعلي مستغني زموږ د هېواد مشهور شاعر دی. مستغني په ۱۲۹۳ هـ ق کال د کابل په بالاحصار کې زېږېدلی دی. د هغه مهال دوديز علوم يې لوستي او په نجوم او هندسه کې يې زياته مطالعه لرله. مستغني د سراج الاخبار د ادبي برخې ليکوال او د حبيبيې د لېسې ښوونکی و. مستغني په ۱۳۵۲ هـ ق کال [۱۳۱۲ لمريز کال] کې وفات شوی دی. مستغني په پښتو او دري ژبو شعرونه ويلي. دا کار په حقيقت کې له ټولو هېوادوالو سره د هغه مينه په ډاګه کوي.

ارواښاد مستغني په دغه شعر کې علم ستايلی او د اوسنۍ نړۍ ټول پرمختګونه او برياوې يې د علم له برکته ګڼلي دي. هغه علم او د علم زور او قوت ستايي او بې علمي او ناداني غندي. د هغه دا شعر موږ ته ستر پيغام دی. بنسايي عمل پرې وکړو او د علم د ترلاسه کولو لپاره شپه او ورځ زيار وکاږو.

فعالیت

زده کوونکي دې پورته شعر د هر بیت متن په جلاجلا توګه شرحه کړي.

ارزونه

١. آیا د پټو سترګو تقلید د یوه ملت د پرمختګ سبب کېدای شي؟

٢. د لوېدیځ هیوادونو د پرمختګ او قوت سبب څه دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د پوهې او ودانۍ تر منځ د اړیکو په اړه یوه مقاله ولیکي چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

لسم لوست



د کندهار امنيتي کمربند او د زرغونې انا دريځ

د کندهار دېوال(کمربند) د هېواد د تاريخ يو ځانګړی بحث دی، چې د احمد شاه بابا له زماني سره تړاو لري. احمدشاه بابا د افغانستان له سترو واکمنانو څخه يو واکمن دی چې د خپلې پاچهۍ په لومړيو کلونو کې يې غوښتل د کندهار له ښار څخه ګردچاپېره دېوال تاو کړي.

زرغونه انا هغه پښتنه مېرمن وه چې د ښې مېرانې او غوره تدبير له مخې يې د دغه دېوال د جوړولو مخه ونيوله. په لاندې لوست کې به د پورتني موضوع په اړه معلومات ترلاسه کړو.

د احمدشاه بابا مور زرغونه نومېدله. نومورې په زرغونې انا شهرت درلود او د افغانستان د پوهو او هوښيارو ښځو له ډلې څخه وه.

احمد شاه بابا د پاچهۍ په اتم کال (۱۱٦۸ لمريز) په کندهار کې د مشرانو يوه جرګه جوړه کړه، چې د کندهار د نوي ښار د جوړولو په اړه خبرې وکړي. د نوي ښار د جوړولو لپاره ځای وټاکي او د ښار د دېوالونو په اړه پرېکړه وکړي.

يوه ورځ زرغونه انا جرګې ته ورغله. احمدشاه بابا له خپلې مور و پوښتل: "مورې، جرګې ته څنګه راغلې يې؟" زرغونې انا ځواب ورکړ: "اورېدلي مې دي د يو ښار د جوړولو نيت لرې چې اووه دېوالونه ولري. زه راغلې يمه، پوه شمه چې آيا دغه خبره رښتيا ده او جرګې دغه هوډ نيولی؟"

احمدشاه بابا ځواب ورکړ: "هوکې مورې، جرګې پرېکړه کړې د نادرآباد پرځای نوی ښار جوړ کړو چې ګردچاپېره اووه دېوالونه ولري. هغه به د افغانستان پلازمېنه وي او هلته به ژوند کوو."

زرغونې انا خپل زوی او د جرګې غړيوته ووېل: "هېواد، ښار او خلک د غيرتي خلکو په همت

ساتل کېږي، نه په لوړو دیوالونو. که غیرتي سړي شتون ولري، خلك که څه هم په کېږدیوکې ژوند وکړي، کولای شـي خپل هېواد وسـاتي او که غیرت نه وي په اوو دېوالو څه، چې په سلو دېوالونو سـره هم نشـي کولای خپل هېواد وسـاتي. بې ځایه ځوانان مه ستړي کوئ، داسې ښار جوړ کړئ چې یوازې یو دېوال ولري او خلك پکې ژوند وکړي. د هېواد ساتنه د مېړنیو همت ته پرېږدئ."

د زرغونې انا دا خبرې احمد شاه بابا او د جرګې غړو ومنلې او پر پـخوانی پرېکړه یې بیا کتنه وکړه. احمدشـاه بابا د کندهار نوی ښـار جوړ او د خپلې مور د سپارښـتنې پر بنسټ یې یوازې یو امنیتي دېوال جوړ کړ.

له دغې تاریخي کیسـې څخه ښـکاري افغانانو د تاریخ په اوږدو کې داسـې مېړنۍ مشران درلودل چې تر قیامته به د هغو په کړنو زموږ ولسونه ویاړي. له خپل مسلمان ولس سره د هغوی بې کچې مینې، هغوی د مشـرتابه تر ټولو لوړ پوړ ته رسـولي وو، عملاً یې خلکو ته ښـوولې وه چې د قام د مشـر پـه توګه هغوی ټول هېواد ته د خپل کور او د هېـواد ټولو وګړو ته د خپلو وروڼو او خویندو په سترګه ګوري.

هغوی د نېکمرغۍ لپاره داسې فکر کوي لکه پلار یا مور چې د خپلو اولادونو په اړه فکر کوي او پـه دغه ډګر کې د نارینـه وو ترڅنګ د نامتو اتلو افغان مېرمنو تاریخي کړنې هم د تاریخ په پاڼوکې له ورایه ځلېږي.

حقیقـت دادی چـې اتلولي او مېړانه په نارینه یا ښـځې پورې تړلې نه ده. پـه دغه برخه کې باید د خپلو تاریخي مېندو او پلرونو تاریخ په غور ولولو او د ژوند په چاروکې د هغوی پر پل، پل کېږدو. هغه چا، چې د ځمکې پر لویه برخه حکومت کاوه، تر واك لاندې سـیموکې یې سـوله، امنیت او ورورولي ټینګه وه. اصلي لامل یې دا و چې له خپل مسـلمان ولس سـره یې ریښتینې مینه لرله. په همدغه ریښتینې مینه یې د خپل هېواد ټول وګړي یو شان پالل، د هغوی د ګټو د ساتلو او زیانونو د مخنیوي لپاره یې شپه او ورځ هڅې کولې. د هغوی د بري راز په همدغو چاروکې نغښتی و.

فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشـــل شـــي. لومړۍ ډله دې د احمد شاه بابا او دويمه ډله دې د هغه د مــور زرغونـــې انا په اړه په خپلو کې خبرې وکړي او دواړه ډلــې دې خپل معلومات ټولګيوالو ته بيان کړي.

ارزونه

۱- احمد شاه بابا په کوم نيت د کندهار تر ښار د دېوال چاپېرولو هوډ کړی و؟

۲- زرغونې انا د څه لپاره ددغه دېوال جوړولو مخالفت وکړ؟

۳- ملي مشران ښايي د خلکو پر وړاندې څنګه چلن ولري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د ملي مشــرتابه د اخلاقو او ورځني چلن په اړه معلومات راټول او وليکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې له ټولګيوالو سره شريک کړي.

د شهيدانو ياد

شهيد چاته ويل کېږي او له کوم مقام څخه برخمن وي؟

د شهيدانو په اړه زموږ دنده څه ده؟

د شهيدانو ياد او د هغوی د کړنو او سربښندنو ياد ساتل، د نن او سبا نسل ته څه ګټه لري؟

د غه لوست د شهيدانو او د هغوی د مقام په اړه دی. په دغه لوست کې به د پورتنيو پوښتنو ځوابونه ومومو.

شهيد هغه چاته ويل کېږي چې د الله ﷻ د رضا د لاسته راوړلو لپاره او د اسلام د سپېڅلي دين او د هغه د حکمونو او ارزښتونو د ساتلو په لاره کې يې ژوند له لاسه ورکړی وي.

د اسلام حکمونه او ارزښتونه ټول د بشريت په خير او ګټه او د انسانانو بريالیتوب او خلاصون په هغو کې نغښتی دی، ځکه ويلای شو چې شهيد د لوړو انساني موخو او ارمانونو او بشري ټولنې او خلکو ته د چوپړ لپاره سرونه ښندلي او ځانونه يې قربان کړي دي. شهيد هغه ډيوه ده، چې په خپله سوځي، خو ټولنه او نړۍ رڼا کوي.

د اسلام له نظره شهيد ډېر لوړ مقام لري. په قرآني آيتونو او نبوي حديثونو کې په وار وار د شهيد د مقام او د الله ﷻ په دربار کې د هغه د لوی ثواب يادونه شوې ده.

د قرآني آيتونو او نبوي حديثونو پر بنسټ، شهيدان په حقيقت کې ژوندي دي او نه ښايي هغوی مړه وبلل شي. الله تعالی ﷻ د شهيدانو په اړه فرمايي:

﴿وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ﴾ - بقره:۱۵۴}

ژباړه: يعنې تاسو هغوی ته چې د الله جل جلاله په لاره کې وژل شوي، مړه مه وايئ، ځکه هغوی ژوندي دي او تاسو نه پوهيږئ.

ګران افغانستان د شهيدانو هېواد او زموږ ملت شهيد پالونکی ملت دی. افغان ولس د دين، ناموس، خاورې، خپلواکی او آزادۍ د ساتلو لپاره هر مهال قرباني ورکړې او د دغه سپېڅلي ارمان د ترلاسه کولو لپاره يې په زرګونو شهيدان ورکړي دي.

کله که زموږ هېواد د پرديو تر اشغال او يرغل لاندې راغلی او زموږ دين، ناموس، خپلواکي او آزادي له ګواښ سره مخامخ شوې، د افغانستان غيرتي ولس د جهاد او مبارزې مورچل ته دانګلي او په دغه لاره کې يې خپل مال او سرونه قربان کړي دي. د بېلګې په توګه د افغان - انګليس په درېو جګړو کې چې پر افغانستان د انګريزانو له خوا يرغل شوی او انګلستان زموږ د هېواد د اشغال هوډ کړی و، زموږ غيرتي ولس په مېړانه د بې شمېرو قربانيو او ډېرو شهيدانو په ورکولو غليم ته ماتې ورکړې او د هېواد استقلال يې لاسته راوړی دی.

همدا راز د ۱۳۵۷ لمريز کال د غويي د اوومې نېټې له خونړۍ کودتاه وروسته زموږ د مسلمانو خلکو دين او سپېڅلي ارزښتونه تر ګواښ لاندې راغلل. د وخت کمونستي حکومت د الحاد (بې دينۍ) او مارکسېزم د خپرولو او زموږ د خلکو، په تېره بيا د علماوو، پوهانو او د هېواد د فکر خاوندانو پر وژنو پيل وکړ او پر افغانستان يې د سوسيالستي شوروي اتحاد د يرغل لاره هواره کړه. د افغانستان مسلمان ملت د کمونستي الحاد او د شوروي د سره پوځ د تيري پرضد چې غوښتل يې زموږ هېواد اشغال کړي، د جهاد اعلان وکړ. په دغه سپېڅلي جهاد کې چې تر ديوې لسيزې ډېر اوږد شو، تر دوو ميليونو زيات هېوادوال د نارينه وو، ښځو، ماشومانو، ځوانانو او سپين ږيرو په ګډون شهيدان شول. کابو د افغانستان لوېشت لوېشت خاوره د سپېڅلي جهاد د شهيدانو په وينو سره شوه.

زموږ د ملت د تاريخ جوړوونکي جهاد د شهيدانو په منځ کې د افغانستان ډېر ښه خلک چې يکې علماء، پوهان، استادان، روڼ اندی، سياستوال، مشران، سپين ږيري، سوداګر، محصلين،

زده کوونکـــي او ځوانان وو، یا له یرغلګر دښــمن ســره د جهاد په تاوده مورچــل کې او یا هم په زندانونــو او بېدیــاوو کې د یرغلګرو او د هغوی د بریښو له خوا په ډېر مظلومیت ســره شــهیدان شوي دي.

د مجاهدینو د سرښندنو، غیرت او زموږ د ګرانو شهیدانو د قربانیو په پایله کې، افغانستان د شوروي اتحاد له منګولو، اشغال او استعمار څخه خلاص او یوځل بیا د استقلال او آزادۍ خاوند شو.

د افغانســتان ملت تل د خپل دین او خپلواکۍ د ســاتلو لپاره سرښندنو او شهادت ته چمتو دی. هر کلــه چې د افغانســتان د خلکو پر دین، ناموس او خاوره یرغل وشــي، د جهاد جنډه پورته کوي.

باید ووایو چې د افغانســتان خپلواکي او آزادي د تاریخ په اوږدو کې د تل لپاره د رښــتینو او مؤمنو مجاهدینــو د زړورتیا او شــهادت زېږنــده ده. هغه څه چې نن یې لرو، د شــهیدانو د وینو له برکته دي. که زموږ ګران شهیدان نن زموږ په منځ کې نشته، خو د هغوی د سرښندنو او اتلولیو یادول او خاطرې به د هېواد د نن او سبا د نسلونو په زړونو او ذهنونو کې تلپاتې وي.

ژوندي ولســونه کله هم خپل شــهیدان او اتلان نه هېروي. د شــهیدانو یاد او د خدمتونو او قربانیو درناوی د افغانســتان د ملت د هوښــیارۍ او د کار پر ارزښــت د پوهېدلو نښه ده. له دې امله موږ د شهیدانو خاطرې ژوندۍ ساتو، ترڅو مو هېواد ژوندی پاتې شي.

د شــهیدانو د ارمانونو او موخو ســاتنه او د هغوی پر لارې تلل، که له یوې خوا د هغوی د مقام او د لوړ موقعیت درناوی دی، له بلې خوا د رښتینې هېوادپالنې نښه ده. موږ یو ژوندی او یو موټی ملت یو، ځکه چې خپل شهیدان موهېرکړي نه دي.

فعالیت

زده کوونکي دې په پنځه کسیزو ډلو ووېشل شي او په خپلو کې دې د شهیدانو د مقام او د هغوی د کارنامو په اړه خبرې وکړي. د خبرو په پای کې دې د هرې ډلې په استازیتوب یوتن د ټولګي مخې ته راشي او د مباحثې لنډیز دې خپلو ټولګیوالو ته بیان کړي.

ارزونه

۱- د شهید کلمه چاته کارول کېږي؟

۲- د اسلام له نظره شهید کوم مقام او موقعیت لري؟

۳- زموږ د هېواد خپلواکي او آزادي د کومو کسانو د سربښندنو په پایله کې لاسته راغلې ده؟

٤- زموږ د هېواد نني او سباني نسلونه د شهیدانو د آرمانونو پر وړاندې څه دنده لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د شــهید او په ټولنه کې د هغه د مقام په اړه مقاله ولیکي چې تر لسوکرښــو لږه نه وي.

دولسم لوست

وطن وايي

هېواد هغه ځای دی چې انسان پکې زېږېدلی او خاورې یې پکې کړې وي. له دې امله مینه او محبت ورسره لري.

د پردیسۍ او مسافرۍ پر مهال رنځېږي او په آبادۍ او سمسورتیا یې خوشحالېږي او خوند ترې اخلي. هېواد یا وطن، د یوې مور په څېر په خپله مهربانه غېږ کې د خپلو بچیانو او وګړو لپاره اسانتیاوې چمتوکوي. له دې امله هېواد ته د مور خطاب کوي او هېواد هر چا ته د مور حیثیت لري. د هغه ساتنه او پالنه د هر هېوادوال ملي، انساني او اسلامي دنده ده. په دې لوست کې به زده کوونکي د هېواد د ارزښت په اړه معلومات ترلاسه کړي.

واوره ای پښتونه، زه میراث ستا د نیکویمه
ستا ښکلي زانګو یم هدیره ستا د پلرویمه
خاورې مې مه بوله په ښه سترګه را ته ګوره ته
خاورې که یم ستا د نیکونو دسرو یمه
ښه ښایسته لعلونه سره یاقوت مې په لمن کې دي
ښکلې شنه باغچه له ګلو ډکه د لیدو یمه
ښې سپینې خوږې یخې اوبه مې د شودو په ځای
تاسې ته درکړې مې مور د ټولو پښتنو یمه
خاوره او هوا مې له غیرت او ننګه ډکه ده
وایي ننګ غیرت چې زه وړمه ستاسې د غرو یمه
ښنلې دي سرې وینې د اوبو په ځای چمن زما
زه ابیاري شوې تل د تورو په اوبو یمه
ته د سپینو تورو په رڼاکې روزل شوی یې
برق د آسمان وایي بریښنا ستاسې د چړو یمه

هیر د پښتـنو خوی او خصلت چې ګوره نه کړې ته
زه ســاتلــــي تا په پښتـنوالـــه او پښــــتو یـــمه
مه ټیټوه هېڅکله خپل ســر د بل په مــــخ کې ته
تـه که وي ســـرلوړی زه ســرلوړی پــه ملکو یمه
کلک عــزم له سره تېرېدل په خپل ناموس باندې
ښیمــــه پښتـون ته د غیـرت او ننـګ زانګو یمه
څوک مـې که پوره حقیقت غواړي په سـندروکې
زه ((الفت)) سـتایلې په خوږو خوږو نغـــمو یمه

لنډیز

شـاعر په پورتني شـعر کې په ښـکلو الفاظو او جملو کې د هېواد ارزښت بیا نوي. هېواد یوازې یو موټـی خـاوره نه، بلکـې د پلرونو او نیکونو درونـد میراث دی. د هغه پـه زړه او لمن کې لاالونه، کانونه، ښکلې چینې، یخې اوبه، ښکلې دښتې، شنه باغونه شته. تر ټولو مهم ټکی پکې له هېواد سـره مینه او محبت دی. شـاعر هغه ته اشاره کوي چې د هېواد پت او عزت په میړاني سره وساتل شي او د سرلوړۍ لپاره یې سربښندنې ته چمتو واوسي.
په شعر کې له پښتو او پښتنو څخه موخه هغو غورو خویونو او اخلاقو ته اشاره ده چې لـوړ همـت، هیوادپالنـــه، زړورتیا، غیرت، میلمه پالنه صبر او اسـتقامت پکې نغښتې وي. افغانان له ستونزو سره روږدي دي او د زور او زر لپاره چا ته سر نه ټیټوي. کله چې د اسلام په سپیڅلي دین مشرف شول، دا خویونه نور هم پکې پیاوړي شول.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د هېواد د شتمنیو او دویمه ډله دې د هېواد د ارزښت په اړه په خپل منځ کې مباحثه وکړي او پایله دې ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

ارزونه

۱ - ستاسو په اند د هېواد خدمت څنګه سرته رسېدای شي؟
۲ – هېواد یې له اوسېدونکو څخه څه تمه لري؟ په خپله ژبه یې ووایئ.
۳ – د هېواد په ساتنه کې د خپلو نیکونو کومې کارنامې درته په یاد دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکـي دې دګل پاچـا ((الفت)) په اړه مقاله چمتو او پــه بله ورځ دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

دیارلسم لوست

د هېواد اتل، غازي محمد جان خان وردگ

زموږ مېړنی خاوره د نومياليو مشرانو، مجاهدينو، پوهانو، ليکوالو او شاعرانو زانګو ده. بې شمېره مشـران، مجاهديـن او اتلان يـې په خپلې غېږ کې روزلي دي. هر يوه پـر خپل مهال خپلو خلکو او خـاورې ته نـه هېرېدونکې خدمتونه کړي او خپل نومونه يې تلپاتـې کړي دي. د هغوی پېژندل زموږ د هر يوه افغان دنده ده. موږ ته ښـايي د هغوی کارنامې يادې وسـاتو او وياړ پرې وکړو. غازي محمدجان خان وردګ د نومورو ملي اتلانو له ډلې څخه يو ملي اتل دی. نوموړي له غليم څخه د هېواد په آزادولو کې سـتر رول لوبولی دی. له همدې امله يې نوم زموږ د هېواد د تاريخ په زرينو پاڼو کې ليکل شوی دی.

په دغه لوست کې د غازي محمدجان خان وردګ لنډه پېژندنه کوو.

محمدجان خان وردګ ولې د ملي غازيانو او اتلانو په ډله کې ګڼل کېږي؟

محمـد جان خان وردګ د غازي سـيدال خـان زوی دی او د وردګو ولايت د جغتو ولسـوالی په بيدمشـک کلي کې زېږېدلی دی. محمد جان خان وردګ د ځوانی پر مهال د امير شـېرعلي خان په لښکرو کې شامل شو. په پوځي خدمت، نظامي دسپلين، توپ استعمالولو او نښې ويشتلو کې د ورتيا او مهارت له امله د جنرالی رتبې ته ورسېد.

کلـه چې انګريزانو د خيبر له لارې پر افغانسـتان يرغل وکړ، قومونـو او قبايلو له جمرود څخه تر ډکـې پورې د غازي محمد جان خان تر مشـرۍ لاندې سـخته جګړه وکـړه. هغه مهال چې امير محمديعقوب خان په ګندمک کې د فرنګيانو د برچې تر څوکې لاندې دګندمک تړون لاسليک کړ، محمد جان خان په ډکه کې په جګړه بوخت و، دربار ته راغی او له نوموړي لوظنامې سره يې خپل مخالفت څرګند کړ. د سيمې خلک يې جهاد ته راوبلل. د سيمې خلک پرې راغونډ شول، د وردګو لښکرې چې لا له وړاندې تيارې وې، د شلګر، کټواز او نورو سيمو له غازيانو سره يو ځای شـوې او پر انګريزانو د بريد لپاره د وردګو د خوات او شـنيز په لارو کابل ته روان شـول. د خوات په لنګر نومې سيمه کې ورسره د غازي عبدالغفور اخندزاده تر مشرۍ لاندې يو شمېر مجاهدين

یوځای شـول. کله چې د ۱۸۷۹ کال د مې په میاشـت کې انګریزان کابل ته ننوتل، محمد جان خان وردګ له یوه ټولي عسکرو سره د کوهستان له لارې راغی او په آسمایي غره کې یې پر انګریزانو برید وکړ. له دې وروسـته جرنیل محمدجان خان په غازي محمد جان خان وردګ ونومول شـو. د جنګیالیو د کمبښـت له امله بېرته وردګو ته سـتون شـو. هلته یې له ملي او مذهبي مشرانو سره سلا مشورې وکړې. د یوه لوی لښکر له تیارولو وروسته د ۱۲۵۷ لمریز کال د لیندۍ په میاشت کې کابل ته راغی او پر انګریزانو یې برید وکړ او سخته ماتې یې ورکړه. د ملي مبارزینو بریدونه هومره ژور او کاري وو چې بې شمېره انګریزان یې تر خاورو لاندې کړل.د کابل په قلعه قاضي کې د محمد جان خان په مشـرۍ برید د دغو سـترو نظامي خوځښتونو یوه لویه بېلګه ده چې وایي انګریزانو د تېښتې لاره ورکه کړې وه. د انګریزانو د ځواکونو مشر، رابرټس هر ځای له غازي محمد جان خان او وزیر محمد اکبر خان څخه سر ټکولی دی.

پـر هېواد د انګریزي شـکېلاک د دویـم یرغل پر مهال غازي محمد جان خـان وردګ د خلکو او ولسـونو پـه یوکولو وکړای شـول، د وردګو، غزني او کابل په سـیمو کې بهرنیـو یرغلګرو ته غاښ ماتوونکې ماتې ورکړې.

لـه محمدجان خان وردګ سـره د خپل ځان او خپلې کورنۍ غـم نه و، بلکې د ټول ولس او خپل هېـواد افغانسـتان غم ورسـره و. هغه ته څرګنـده وه چې د هېواد ننګ، ناموس، عزت، شـرف او خپلواکـي د ټولـو افغانانو پر یووالي او یوموټي توب سـاتل کېږي، لـه دې امله یې د ملي یووالي او د ولسونو د وحدت پر اړتیا ټینګار کاوه.

غازي محمد جان خان د ۱۲۱۳- ۱۲۵۸ لمریز کلونو تر منځ ژوند کړی او د افغانستان په سیاسي تاریخ کې یې پیاوړی رول لوبولی دی.

غازي محمدجان خان وردګ په همدې لارکې د شهادت لوړ مقام ته رسېدلی دی. اروا دې ښاده وي.

فعالیت

زده کوونکي دې د هېواد د خپلواکۍ د لارې د ملي مجاهدینو او اتلانو د سرښندنو په اړه په خپلو کې خبرې وکړي.

ارزونه

۱ - ستاسو په اند غازي محمد جان خان وردګ ولې د ګندمک له تړون سره مخالفت وکړ؟
۲ - انګریزانو څو وارې پر افغانستان برید کړی او غازي محمدجان خان د کومې جګړې اتل ګڼل کېږي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هېواد د خپلواکۍ په ساتلو کې د ولس د یووالي د اهمیت او اړتیا په اړه یوه مقاله ولیکي.

د ازادۍ او خپلواکۍ اهمیت

خپلواکي او آزادي د یوه ملت په برخلیک کې څه ونډه لري؟
خپلواک ولسونه په نړۍ کې کوم دریځ لري؟
په دې لوست کې به د نورو معلوماتو تر څنګ د پورته پوښتنو ځواب لاسته راوړو.

آزادي او خپلواکي د الله جَلَّ جَلَالُهُ له سترو نعمتونو څخه ګڼل کېږي. خپلواکي دې ته وايي چې د یو هېواد اوسېدونکي خپل ټول سیاسي، اقتصادي او فرهنګي فعالیتونه د بهرنیانو له لاسوهنې پرته د خپل هېواد د ملي ګټو، د ځمکې د بشپړتیا، ترقۍ او پرمختګ د سوکالۍ او نیکمرغۍ په پام کې نیولو سرته ورسوي.
د افغانستان آزادۍ خوښوونکي خلک د تاریخ په اوږدو کې د ظلم، استبداد، استعمار او تېري پر وړاندې جهاد او مقابله کړې ده او د هېواد له آزادۍ او خپلواکۍ څخه یې د سر او مال په بیه ساتنه کړې ده. څرګنده بېلګه یې د مقدوني سکندر، چنګیز، مغولو، انګرېزانو او په دې وروستیو کې زموږ پر هېواد د پخواني شوروي اتحاد د سره پوځ د یرغل پر وړاندې د افغانستان د خلکو مېړانه ده. افغانانو د اسلام د مبین دین د لارښوونو په رڼا او د ملي یووالي او اسلامي روحیې د ساتلو په برکت د پردیو تېري پر شا تمبولي او له خپلې خاورې څخه یې دفاع کړې ده.
د ولسونو نیکمرغي هغه مهال رامنځته کېدای شي چې هېوادونه یې سیاسي او اقتصادي آزادي ولري؛ یعنې په سیاسي عمل او اقتصادي فعالیتونو کې آزاد وي او د خپلواکۍ او آزادۍ تر سیوري

لاندې خلك خپله نېكمرغي، ترقي او پرمختګ ترلاسه كړي.
د آزادۍ او خپلواكۍ لمانځل د هېواد شهيدانو، اتلانو او سرښندونكو ته درناوى دى، چې د هېواد لپاره يې خپل ګران ځانونه قرباني كړي او راتلونكو نسلونو ته يې ستره ډالۍ، يعنې آزادي او خپلواكي په ميراث پرې ايښې ده. موږ بايد د هغو د لاسته راوړنو اوبرياوو ساتنه وكړو.

فعالیت

زده كوونكي دې په ډلو وويشل شي. هره ډله دې د لاندې يوې موضوع په اړه خبرې وكړي او پايله دې خپلو ټولګيوالو ته ووايي.

ـ آزادي څه ته وايي؟
ـ آزادي د انسانانو او هېوادونو په ژوند انه كې څه ارزښت لري؟
ـ د هېواد له خپلواكۍ او آزادۍ څخه څرنګه ساتنه كېږي؟

ارزونه

١. خپلواكي او آزادي د يوې ټولنې په اقتصادي پراختيا كې څه ونډه لري؟
٢. د سياسي او اقتصادي خپلواكۍ ترمنځ څه اړيكه ده؟
٣. د خپلواكۍ په ساتنه كې د افغانستان د خلكو د مېړانې بېلګې بيان كړئ؟

کورنۍ دنده

زده كوونكي دې د آزادۍ د اهميت او ارزښت په اړه يوه مقاله وليكي.

د عینو کاریز

مېرمن عینو یوه پیاوړې او غیرتمنه مېرمن وه چې د احمد شاه بابا په عصر کې یې په کندهار کې ژوند کاوه. د دې ښځې په کړو وړو کې اسلامي ارزښتونه او افغاني غیرت ګډ شوی و. زده کوونکي به په دغه لوست کې د مېرمن عینو د مېړانې، شهامت، او له هېواد سره د هغې د مینې او محبت په اړه معلومات تر لاسه کړي.

د کندهار ښار ته نژدې یو کاریز دی چې د عینو کاریز نومېږي. عینو یوه ننګیالۍ افغانه مېرمن وه چې د احمد شاه بابا په عصر کې یې ژوند کاوه. کوم وخت چې احمد شاه بابا د هندوستان په یوه سفر تله، نو د دې مېرمنې خاوند هم له هغه سره په عسکرو کې هغه لوري ته لاړ. کله چې افغانان له هغه سفر څخه بېرته بریالي او فاتح را وګرځېدل، نو د کندهار ښار ته نژدې دېره شول چې شپه تېره کړي او سبا د ورځې په رڼا کې په ښکاره شان او شوکت ښار ته ننوزي. د مېرمن عینو خاوند په دغه شپه په پټه خپل کور ته لاړ. د کور دروازه یې وټکوله. مېرمن عینو دروازې ته ورغله او ویې پوښتل څوک یې؟ ده ورته ځان وروپېژاند. مېرمن عینو بیا ورڅخه پوښتنه وکړه چې څنګه راغلې؟ احمدشاه بابا څه شو؟ لښکر مو بریالی شو؟

خاوند یې ورته وویل، که مو لښکر بریالی شوی نه وای، نو زه به هم تا ته ژوندی نه وای راغلی، لویه سوبه مو په نصیب شوې ده... عینو بیا پوښتنه وکړه، نو ته ولې یوازې راغلې؟ نور لښکر څه شو؟ خاوند یې وویل، نور لښکر ښار ته نژدې د بابا په امر پروت دی، چې سبا د ورځې په رڼا کې ښارته ننوزي. زه ستا مینې ناقرار کړم او تر هغو د مخه راغلم، ژر دروازه راخلاصه کړه چې سره ووینو. عینو ورته وویل، ته تر چا نازولی وې چې ملګري دې پرېښودل او په پټه له ټولو څخه د

مخه شـوې، ماته راغلې؟ آیا سـتا نورو ملګرو ښځې نه درلودې؟ که یې په سینو کې زړونه نه وو؟ دا ټول وو، خو هغو نه غوښــته چې داســې یو کار وکړي... که سبا نورې پښتنې مېرمنې خبرې شي ماته به څه وايي؟ دا ډېر لوی پېغور دی. تا ته ور نه خــلاصوم، ځه لاړ شه! هغه مهال چې د احمد شــاه بابا ټول ســرتیري کورونو ته راستانه شــول، ته هم راتلای شې. د عینو خاوند د خپلې ننګیالۍ مېرمنې له پیغوره و شرمېد، بېرته لاړ، خو خیمې ته نژدې ځوکیدارانو ونیوه او سبا ته یې د احمد شاه بابا مخې ته وروست، ځوکیدار عرض وکړ چې دا سپاهي د شپې بې له اجازې کورته تللی و. احمدشاه بابا پوښتنه ځنې وکړه، عسکر چې څه لیدلي او اورېدلي وو، ټول یې ورته وویل.

احمدشاه بابا د هغه د مېرمنې پر مېړانه او افغاني احساس باندې شاباسی وواېه او د هغې په درناوي یې د دې عــسکر ګــناه هـم وبښله، مـېرمن عینو ته یې کاریز وروباښه چې تر اوسه پـورې د ((عینو کاریز)) په نامه مشهور دی، دا کاریز د کندهار ښار لمرخاته ته پروت دی.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې د تاریخ په اوږدوکې د افغاني میرمنو او بله ډله دې د عینو د مېړانې او غیرت په اړه په خپل منځ کې خبرې اترې وکړي.

ارزونه

١- مېرمن عینو د افغانستان د کوم پاچا په عصر کې اوسېدله؟
٢- مېرمن عینو د خپل خاوند په وړاندې څرنګه دریځ غوره کړ؟
٣- احمد شاه بابا د عینو د هېواد پالنې د روحیې پر وړاندې څه غبرګون وښود؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د منابعو او د سیمې د مشرانو په مرسته له هیواد سره د مینې په اړه یوه مقاله ترتیب او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

فرهنګي میراثونه

(ملي موزیم، ملي ارشیف او ملي ګالري)

پـه دغه لوســت کې به د ملي موزیم، ملي ارشــیف او ملــي ګالرۍ په اړه معلومــات پیدا کړو. په نوموړو ځایونو کې تاریخي آثار، ارزښــتناک خطي اســناد او هنري آثار ســاتل کېږي او ننداري ته وړاندې کېږي، چې زمــوږ د ټولنې د تېرو وختونو د سیاســي، اقتصــادی، فرهنګي، پوځي او ټولنیزو حالاتو بیانوونکــي دي. دغه راز دا تاریخي آثار د فرهنــګي میراثونو په نامه هم یاد شوي دي. له دې لوســت څخه به پوه شــو چې دا توکي څېرته ساتل کېږي او موږ د هېواد پر وړاندې څه مسؤولیت لرو؟

۱ـ ملي موزیم، دلرغونو آثارو زېرمه تون

د تاریخي او ارزښتناکو آثارو او توکو د ساتنې لپاره ډېر مهم ځای موزیمونه دي چې په ورته حال کې خلک د هغوی په لیدلو په مســتقیمه توګه له ارزښــتناکو فرهنګي میراثونو سره آشنا کېږي. په ۱۹مه پېړۍ کې د لرغــونو آثارو د ســاتنې او ننداري لپاره په نړۍ کې مــــوزیمـــونه جوړ شول.

د کمیابو او ارزښتناکو شیانو له ساتنې سره د انسانانو ذاتي تمایل، علمي پرمختګونه، له ملي هــویت ســـره مینه او د لرغوني ژوندانه په ښه پېژندلو کې د دغو آثارو د ارزښت په اړه د خبرتیا زیاتوالی هغه دلایل دي چې دولتونو او حکومتونو په دې برخه کې پاملرنه کړې. له فرهنګي مرکزونو څخه یو هم د افغانستان ملي موزیم دی. ملي موزیم په ۱۲۹۸لمریزکال کې جوړ شوی دی چې د هېواد د تاریخي آثارو د ساتلو مسؤولیت پر غاړه لري. دغه موزیم ته د کورنیو جګړو پر مهال ډېر زیانونه اوښتي او یو

شمېر توکي يې له هېواد څخه بهر ته وړل شوي وو. د افغانستان ملي موزيم د نړۍ له بډايو موزيمونو څخه شمېرل کېږي او ډېر ارزښتناک تاريخي آثار لري. اوس د دغو آثارو ګڼ شمېر د دولت په پاملرنه او د دوستو هېوادونو او نړيوالې ټولنې په مرسته بېرته هېواد ته راوړل شول. دغه راز د هغه ودانۍ هم د نړۍ د موزيمونو له معيارونو سره سم بېرته رغاول شوې ده. ملي موزيم د کابل ښار د دارالامان په سيمه کې موقعيت لري او د افغانستان له فرهنګي او تاريخي ودانيو څخه شمېرل کېږي.

۲_ ملي ارشيف

د خطي او چاپي ارزښتناکو آثارو د ساتلو ځاى د ملي آرشيف په نامه يادېږي. د اسنادو د ساتلو لپاره ارشيف د جوړېدو تاريخ تر لرغونې وخت پورې رسېږي. له هغه وخته، چې انسان د خپل ژوندانه اړوند مسايل ثبت کړل، د ساتنو په فکر کې يې ولوېد. مسلمانانو په مختلفو پړاوونو کې د اسنادو د ساتلو لپاره ځايونه درلودل چې د خزينې په نامه يادېدل. په اروپا کې په منځينو پېړيو کې د دولتي سندونو او مدارکو د ساتلو لپاره آرشيفونه رامنځته شول. په ۱۷مه پېړۍ کې په اروپا کې د مهمو دولتي سندونو تنظيم دود شو او د هرې ورځې په تېرېدو سره د ملي آرشيفونو شمېر زيات شو.

په افغانستان کې ملي ارزښتناک آثار لکه فرمانونه، علمي، قلمي او نقش شوي او ميناتوري شوي علمي کتابونه او نور مهم سندونه په ملي آرشيف کې ساتل کېږي.

زموږ د هېواد ملي آرشيف په ۱۳۵۳ لمريز کال کې جوړ شوى، د کابل ښار په سالنګ واټ کې موقعيت لرى او د افغانستان د تاريخ او فرهنګ د څېړنې ښه منبع ګڼل کېږى.

په ملي آرشيف کې لاندې سندونه ساتل کېږي:

- اقتصادي او ټولنيز سندونه، لکه په ځمکو، سوداګرۍ او صنعت پورې اړوند سندونه،

ملي آرشيف

- فرهنگي سندونه، لکه د علمي او فرهنگي مرکزونو په جوړولو پورې اړوند سندونه، خطي میناتوري شوي کتابونه،
- سیاسي سندونه، لکه فرمانونه او تړونونه،
- شخصي سندونه، لکه خاطرې او سفر نامې.

۳_ ملي ګالري، د هنري آثارو زېرمه تون

ګالري یوه فرانسوي کلمه ده. په افغانستان کې هغه ځای ته ویل کېږي چې د نقاشۍ او میناتورۍ ارزښتناک کلاسیک او معاصر آثار پکې ساتل کېږي.

د موزیم تابلوګانې او نور نقاشي شوې آثار د څېړونکو د څېړنې لپاره ډېر زیات ارزښت لري. په هر حال لرغوني آثار چې په ملي موزیم، ملي ارشیف او ملي ګالرۍ کې ساتل کېږي، د ټولنې د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي، پوځي او ټولنیزو حالاتو د درک لپاره د څېړونکو او تاریخپوهانو د مطالعې او څېړنې لپاره اصلي منبع بلل کېږي. ملي ګالري د کابل ښار په آسمایی واټ کې موقعیت لري.

د ملي ګالرۍ انځور

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې د دې مطالبو په هکله خبرې اترې وکړي او پایله دې د ډلې استازی نورو ټولګیوالو ته ووایي.

- هغه آثار چې په ملي موزیم کې ساتل کېږي، بیان کړئ.
- هغه سندونه چې په ملي ارشیف کې ساتل کېږي، بیان کړئ.
- هغه آثار چې په ملي ګالرۍ کې ساتل کېږي، بیان کړئ.

ارزونه

۱. ولې هېوادونه موزیم لري؟
۲. ملي آرشیف ولې او څه وخت زموږ په هېواد کې جوړ شو؟
۳. آیا ملي ګالرۍ ته د هنري آثارو موزیم ویلای شو؟

کورنۍ دنده

هغه پخواني آثار او سندونه، چې زموږ ملي هویت څرګندوي، د خپلو ملګرو او دوستانو په مرسته ولیکئ.

اوولسم لوست

د هېواد نوموړکي خدمتګاران

کله چې د هېواد د خپلواکۍ په اړه خبرې اورئ، آیا دې ته مو پام کړی چې دغه خپلواکۍ په څومره بیه د چا د جهاد او سرښندنې له امله لاسته راغلې؟ کله چې د هېواد دننه سفر کوئ، آیا په ذهن کې مو ګرځېدلي چې د سړکونو جوړېدل د چا د خولو د تویېدو او نه ستړي کېدونکي کار پایله ده؟ کله چې د هېواد په کوم ګوټ کې ښکلې ودانۍ وګورئ، کله مو د هغو کسانو په اړه فکر کړی چې په جوړولو کې یې شپه او ورځ زیار ګاللی. کله چې له وېرې پرته په خپلو کورونو کې سوکاله ژوند کوئ، یا په ښوونځي کې زده کړه کوئ یا په ښارکې په آزاده توګه ګرځئ راګرځئ، آیا فکر مو کړی چې دغه آرامي او امنیت چا ټینګ کړی؟ کله چې خواړه، مېوه یا سابه خورئ او خوند ترې اخلئ، آیا دې ته مو پام کړی چې د هغو د کرلو، خړوبولو او د الله جل جلاله د دغو نعمتونو د تیارولو زیار چا ګاللی او خولې یې تویې کړې دي؟ کله چې د ګران هېواد له ښارونو څخه په یوه پاک ښار کې ګرځئ، آیا په ذهن کې مو ګرځېدلي چې دغه پاکي او ښکلا د چا د کار محصول دی؟ کله چې د هېواد په یوه روغتون کې تاسې یا ستاسو له خپلوانو څخه د چا درملنه شوې او روغ شوی وي، آیا پام مو ورته کړی چې د ناروغانو د درملنې لپاره شپه او ورځ څوک زیار باسي او د شپې ویښ پاتې کېږي؟

کوم کارونه چې پورته ونومول شول، ټول د افغانستان د زرګونو مخلصو او هېوادپالو بچیانو د نه ستړې کېدونکو هڅو پایلې دي چې په زړه سوي او ځان تېرېدنې د هېواد او هېوادوالو په چوپړ کې دي او په ټول وس هڅه کوي، د هېوادوالو د آرامۍ او سوکالۍ لپاره لاره هواره کړي.

د هېواد امنیت، آرامي او پرمختګ د دغو نوموړکو خدمتګارانو له سرښندنو پرته لاسته نه راځي.

لـه دې املـه پر ځای ده چې د هېواد د بچیانو د رښـتینو هڅو درناوی وکړو او د هغوی احسـان او نیکۍ هېرې نه کړو.

هغه انسـانان چې نورو ته خیر رسـوي، د شـمعې په څېر دي، په خپله سـوځي، خو چاپېریال رڼا کوي. دا راز خلك د ستاینې او درناوي وړ دي.

فعالیت

زده کوونکي دې د هغو هېوادوالو د کارونو په اړه په خپلو کې بحث وکړي چې په خپلې سرښندنې د نورو د ژغورنې لامل شوي دي. هغه کلینر چې د سالنګ په لویه لاره کې یې ځان د موټر تر ټایر لاندې کړ او شـهید شـو، خو لسـګونه نور هېوادوال یې له مرګ وژغورل، د دغو ځان تېرېدنو یوه بېلګه ده.

ارزونه

١- د هېواد خپلواکي د کومو کسانو د ځان تېرېدنو محصول ده؟

٢- موږ د هېواد د نومورکو خادمانو په اړه څه مسوولیت لرو؟

کورنۍ دنده

زده کوونکـي دې د هغو ارزښـتمنو خدمتونو بېلګې په خپلو کتابچو کـې ولیکي چې د هېواد په پرمختګ او پراختیا کې اغېز لري.

عبدالرحمٰن پژواک

په دغه لوست کې به د هېواد د یوه سیاسي، فرهنګي او ادبي شخصیت، عبدالرحمٰن پژواک په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

عبدالرحمٰن پژواک د افغانستان د تاریخ، فرهنګ، ادب او سیاست په ډګر کې یو ځلانده او لوی شخصیت دی چې په ۱۲۹۶ لمریز کال کې یې د همېشه بهار (ننګرهار) د سره رود (سرخرود) ولسوالۍ د باغبانیو د کلي په یوې روڼ اندې کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې دي. پژواک تر څلورم ټولګي پورې د خپل زېږېدلو په ځای کې زده کړه وکړه. ثانوي یا منځنۍ زده کړې یې د حبیبیې په لېسه کې په بریالیتوب سره پای ته ورسولې او وروسته یې د کابل پوهنتون د طب پوهنځي ته لاره پیداکړه. څرنګه چې د خپلې سلیقې او مینې پر خلاف په هغه پوهنځي کې شامل شوی و، دوه کاله وروسته یې خپلې زده کړې نیمګړې پرېښودې.

اروابناد عبدالرحمٰن پژواک خپل کاري ژوند د تاریخ په ټولنه کې د انګلیسي ژبې د ژباړونکي په توګه پیل کړ. د دغه کار ترڅنګ یې ادبي او هنري لیکنې هم کولې او وروسته یې د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې کار وکړ. بیا د اصلاح ورځپاڼې د مسؤول مدیر په توګه وټاکل شو. وروسته د باختر آژانس مشر شو او د پښتو ټولنې ریاست افتخاري غړی شو. اروابناد پژواک په ۱۳۲۵ لمریز کال د ډپلوماسۍ ډګر ته راغی او په ډېره لنډه موده کې یې استعداد او کاري توان ښکاره شو.

د ملګرو ملتونو په سازمان کې یې د افغانستان د دایمي استازي په توګه اوږده موده په مینه او مسوولیت

کار وکړ. د خپلې ژورې پوهې او تجربو پر بنسټ پر مهمو دندو وګومارل شو. له هغې جملې څخه د ملګرو ملتونو پر منشور د بیا کتنې د کمیسون، د بشري حقونو د کمیسون، د ملګرو ملـــتونو د ټولنې عمـــومي غونډې مشري او د نامیبیا لپاره د ملګـــرو مـــلتونو د څانګـــړې استازي دندې یادولای شو.
په نړیواله کچه د ملګرو ملتونو د سازمانونو، لکه یونسکو، بشري حقونو او یونیسف کې د افغانستان د غړیتوب د ترلاسه کولو او په نړیوال ډګر کې د بشر د حقونو له اعلامیې سره د افغانستان د پیوستون په اړه د هغه هلې ځلې د ستاینې وړ دي.
د ملګرو ملتونو په سازمان کې د شته اسنادو پر بنسټ، پژواک د مـــلګرو ملتونو د بر خلیـــک ټاکلو د حق ورکولو د طرحې نوښتګر هم بلل شوی چې((خپل - واک)) هم ورته ویل کېږي. په بله وینا د ((خپل - واک)) حق د پژواک تر هڅو وړاندې یوازې د یوه سیاسي اصل په توګه پېژندل کېده، خو د هغه د هڅو په پایله کې د ملګرو ملتونو په منشور کې د ملتونو د مسلم حق په توګه ثبت شو.
پـژواک په ۱۳۵۲_۱۳۵٦ لمریز کلونو کې په هند کې د افغانســتان د ســفیر په توګـه دنده لرله. له ۱۳۵۷ لمریز خـــونړۍ کودتاه وروستـــه لـه رسمي دندو ګـوښه شـــو او د خــپلې هېوادنۍ مـــینې پر بنســـټ یې د ((انجمن حقوق بشر افغانستان)) تر نامه لاندې پټ سازمان جوړ کړ. پژواک په ۱۳٦۱ لمریز کې امریکا ته لاړ او په ۱۳۷۱ لمریز کال کې بېرته پېښور ته راغی.
له اروابناد پژواک څخه لاندې چاپ شوي آثار پاتې دي:
کلمه داره روپی، آریانا، افسانه هاي مردم افغانستان کهن، پشتونستان، پیشوا، باغبان،ګلهای اندیشه، بانـوی بلـخ، الماس ناشـکن، آواره ،ګلهای کوهي، افسـانه های مردم، حدیث خـون، میهن من، احساسات و عواطف یک زن، حوض خاص او نور.
په خواشینۍ چې د هېواد نوموړی شاعر، کیسه لیکونکی او ډپلومات، عبدالرحمٰن پژواک د ۱۳۷٤ لمریز کال د جوزا په ۱۸مه د پنجشـنبې په ورځ (۱۹۹۰زېږدیز کال) د هجرت په چاپېریال (پېښور) کې له نړۍ سترګې پټې کړې، جنازه یې افغانستان ته راوړل شوه او په خپلې پلرنۍ هدیره کې (د سره رود، د باغبانیو په کلي کې) خاورو ته وسپارل شوه.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي. یوه ډله دې د استاد عبدالرحمٰن پژواک د زده کړو، دویمه ډله دې د هغه د فرهنګي او ادبي او دریيمه ډله دې د هغه د سیاسي کارونو په اړه په خپلو کې خبرې وکړي او پایله دې په ټولګي کې بیان کړي.

ارزونه

۱- استاد عبدالرحمٰن پژواک د ملګروملتونو په سازمان کې کوم مهم کارونه وکړل؟

۲- د پژواک د ادبي او فرهنګي آثارو سرلیکونه ولیکئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د عبدالرحمٰن پژواک د شخصیت په اړه یوه مقاله ولیکي او په ټولګي کې دې ولولي.

د هېواد پرمختګ د هر افغان هيله ده



افغانان هېوادپال او سوله خوښوونکي خلك دي. خپل هېواد ورته ګران دی او د هغه د پرمختګ او پراختيا غوښتونکي دي. د هېواد پرمختګ د هر افغان د کوښښ، هڅې او زيار په واسطه په اقتصادي، سياسي، اجتماعي او فرهنګي ډګرونو کې پرمختګ رامنځته کولای شي. زده کوونکي به په دغه لوست کې له پورتنيو مطلبونو سره آشنا شي.

الف - سياسي برخه

د سياسي برخې پراختيا د سياسي نظام يوه مهمه برخه جوړوي چې د نظام د ټينګښت په برخه کې د ټولو په ګډه زيار پورې اړه لري. په دې برخه کې بايد نظام داسې وده او پراختيا وکړي چې د هېواد هر افغان اوسېدونکی په خپل سياسي نظام کې خپله ځېره وګوري. خپل ځان له هېواد څخه جلا و نه بولي او د هېواد په برخليك کې ځان شريك وګڼي. د هېواد زيان خپل زيان او د هېواد پرمختګ خپل پرمختګ وګڼي. د هېواد ملي ګټو ته د خپلې لوړې هيلې په توګه فکر وکړي او د پراختيا په لاره کې يې خپل هېڅ ډول زيار ونه سپموي.

ب- اقتصادي برخه

زموږ ګران هېواد، افغانستان د طبيعي منابعو له پلوه ډېر بډای دی او د سترې اقتصادي بډاينې درلودونکی دی چې د هېواد په اقتصادي پراختيا کې اساسي او ډېر مهم رول سرته رسوي. په دې برخه کې له طبيعي منابعو او اقتصادي زېرمو څخه دې کار اخيستل په داسې ډول سرته ورسېږي چې ملي ګټې، ملي اقتصاد او د عامو خلکو د ژوندانه د حالت بدلون د اقتصادي پروګرامونو په سر کې راشي. اقتصادي وده دې د افغاني ټولنې د ځانګړتياوو له مخې په پام کې ونيول شي، چې

هر افغان یې له ګټو څخه برخمن شي، د هېواد د اقتصادي پراختیا په لاره کې ځان مسوول وبولي او احساس او باور تر لاسه کړي چې د هېواد اقتصادي پراختیا د هغو د مټو په زور او همت سره امکان لري.

ج - ټولنیزه او فرهنګي برخه

ټولنیزه او فرهنګي پراختیا د یوه هېواد په پراختیا کې مهم او بنسټیز رول لري. تر هغه چې د یوې ټولنې اوسېدونکي له ذهني او فکري پلوه بدلون و نه مومي او ځان د خپل ولس او هېواد ښښتن او خدمتګار و نه بولي، ټولنیز او فرهنګي پراختیا امکان نه لري. د ټولو قومونو اوسېدونکي، افغانستان خپل ستر کور بولي او په وده او پرمختګ کې یې ونډه اخلي. افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د بېلا بېلو بشري تمدنونو او فرهنګونو د امتزاج او یو ځای کېدو مرکز پاتې شوی چې د دې سیمې خلکو د هغو په وده، پراختیا او خپرېدو کې ارزښتناك او مهم رول سرته رسولی دی. د افغانستان حکومت او دولت دنده لري، هغه فرهنګي ارزښتونه چې له پخوا څخه موږ ته په میراث پاتې شوي، وساتي او د پراختیا په لاره کې یې هڅه وکړي.
د هېواد پرمختګ ته پاملرنه او په دغه ډګر کې کارکول، د یوه هېوادپال انسان له خویونو څخه دي.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې د اقتصادي پراختیا په هکله او بله ډله دې د پراختیا د لاملونو په اړه خبرې وکړي او پایله دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

ارزونه

١. سیاسي پراختیا څه مفهوم لري؟
٢. اقتصادی پراختیا روښانه کړئ.
٣. فرهنګي او ټولنیزه پراختیا بیان کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د افغانستان د پراختیا په هکله یوه مقاله ترتیب او په بله ورځ دې ټولګي کې وړاندې کړي.

غازي میر مسجدي خان

زموږ خاوره تل د نړۍ د سترو زبرځواکونو او ګاونډیو تر بریدونو او یرغلونو لاندې راغلې ده. هره پلا یرغلګر د دغه خپلواکۍ غوښتونکي ولس له غاښن ماتوونکو ځوابونو سره مخ شوي.

د ملي اتلانو نومیالیتوب او زړورتیا چې د پردیو پوځونو پر وړاندې په مبارزه کې ننداري ته وړاندې شوې، د افغانستان د ټولو سوله خوښوونکو ولسونو د مینې او ملاتړ لامل ګرځېدلې ده. د حق د دې لارې د اتلانو نومونه خلکو په خپلو زړونو کې ژوندي ساتلي او د راتلونکو نسلونو د ویاړ او افتخار نښه بلل کېږي.

میرمسجدي خان د دغو ملي اتلانو له ډلې څخه یو اتل دی چې د هغه او نورو ملي اتلانو سرښندنې له انګریزانو څخه زموږ د هېواد د خپلواکۍ او استقلال د لاسته راوړلو لامل شوي دي.

د ملي اتلانو د ژوند لیک او اتلولیو یادول موږ ته څه را یادوي؟

میرمسجدي خان د کاپیسا ولایت د کوهستان په ولسوالۍ کې نړۍ ته سترګې غړولي او همدلته لوی شوی دي. د میرمسجدي خان کورنۍ د کوهستان له خواجه ګانو څخه شمېرل کېږي، چې د نسب لړۍ یې د اسلام لومړي خلیفه ته رسېږي.

زموږ پر خاوره د انګلیسانو د لومړي یرغل پر مهال مسجدي خان په کوهستان کې و. په ۱۲۵۶ هجري کال (۱۲۱۹ هـ ش، ۱۸۴۰ میلادی) میرمسجدی خان او سلطان محمدخان د هېواد د ملي مجاهدینو په مشرۍ امیر دوست محمدخان ته چې په دغه مهال یې په تاشقرغان کې استوګنه درلوده، لیک واستاوه. د کوهستان ملي مجاهدین چمتو دي د انګلیسانو پر وړاندې د خپل ژوند تر وروستی سلګۍ پورې وجنګېږي او جهاد ته دوام ورکړي. امیر ته یې کوهستان ته د راتګ بلنه ورکړه.

دا هغه مهال و چې امیردوست محمدخان د سرتېرو له کمښت څخه اندېښمن و. د دې بلنې له امله ډېر خوشال شو او د کابل په لور وخوځېد. میرمسجدي خان په ډېر اخلاص د هغه هرکلي وکړ او خپل کور ته یې بوتلو. کله چې د انګلیسانو استازی، مکناټن سیمې ته د امیر له بېرته راتګ او په کوهستان کې د هغه له استوګنې خبر شو، میرمسجدي خان ته یې یو لیک واستاوه او د امیر دوست محمد خان د سپارلو په وړاندې یې ورته د ډېرو انعامونو او مکافاتو وړاندیز وکړ او ورته یې ولیکل چې که هغه تسلیم نه کړي، نو کلا به یې ورته په توپونو والوزوي او دی به له زیان سره مخامخ کړي.

میرمسجدي خان د انګلیسانو دغه وړاندیز ونه مانه او نه یې له ګوانښ څخه وډارېده، بلکې تر پخوا یې زیات خپلو مبارزو ته دوام ورکړ. انګلیسانو یو ځل بیا هغه او د سیمې نورو مشرانو ته لیکونه واستول او د جګړې د نه کولو غوښتنه یې وکړه. انګلیسان دا پلا هم د مسجدي خان له جګړې او مقاومت سره مخامخ شول.

میرمسجدی خان د عمر تر پایه پورې د انګلیسانو پر وړاندې خپل جهاد ته دوام ورکړ او د هغوی هېڅ راز انعامونو او مکافاتو ته تسلیم نشو.

د انګلیسانو او ملي مبارزینو لومړۍ جګړه د پروان ولایت په تتم دره کې د علیخان کلا شاوخوا ونښته. انګلیسان وايي، په دې جګړه کې د هغوی توپونو ته ډېر زیان ورسېد او د ادوارډ سانول په نامه یو کپتان یې هم په دې جګړه کې ووژل شو. وروسته د ۱۸۴۰ کال د اکتوبر په ۱۲ چاریکارو ته څېرمه د میرمسجدي کلا شاوخوا د انګلیسانو او ملي مبارزینو ترمنځ یوه بله جګړه پیل شوه. میرمسجدي د نورو ملي مبارزینو په ملګرتیا پر انګلیسانو یرغل وکړ او سخته ماته یې ورکړه. په دې جګړه کې سپه سالار کاټن او رابرت ووژل شول او ډېر پوځي تجهیزات د ملي مبارزینو لاسونو ته ورغلل.

میرمسجدي خان پیاوړی جنګیالی و. هغه پر هېواد او خپلواکی مین و. هېڅ راز تمې او ډار له انګلیسانو سره د هغه د دښمنی مخه ونه نیولای شوه.

د دې زړور شخص مجاهدتونه او د پېرنګیانو په وړاندې د کوهستان، کوهدامن او نجراب د اوسېدونکو په پاڅون او پاچاهی ته د امیردوست محمد خان په بېرته ورستنولو کې د هغه زیار او هڅه له هېواد سره د هغه مینه او علاقه څرګندوي. همغسې چې د هغه او د هغه د ملګرو زړورتیا ملي حماسه جوړه کړه، پر ځای به وي چې هغه د نومیالیو ملي اتلانو په ډله کې وشمېرو.

میرمسجدي خان غازي د ۱۸۴۱ کال د نومبر په ۲۶ (۱۲۵۷ کال د شوال ۱۱) له ټپي کېدو وروسته وفات او د چاریکارو په ده قاضي کې خاورو ته وسپارل شو.

فعالیت

زده کوونکي دې د یرغلګرو په وړاندې د ملي مجاهدینو د مبارزو په اړه په خپلو کې خبرې اترې وکړي.

ارزونه

۱ - ولې افغانان د نورو ولسونو په پرتله پر خپل هېواد د پردیو له تېري سره حساسیت لري؟

۲ - میرمسجدي خان ولې د انګلیسانو د انعام او مکافاتو بلنه ونه منله؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د میرمسجدي خان د مېړانې او مبارزو په اړه یوه مقاله ولیکي.

د هېواد ځينې پوهنپال واکمنان

له پوهې سره مینه او بشري تمدن ته خدمت ښه انساني صفت ګڼل کېږي. د بشر په تاریخ کې په ټولیزه توګه او د اسلامي تمدن په تاریخ کې داسې مشران تېر شوي چې د پوهې په خپرولو او د پوهانو په پاللو او ستایلو کې یې ډېرې هڅې کړې او ښه نوم یې پرېښی دی.
په دغه لوست کې د افغانستان دوه مشهورې تاریخي څېرې درپېژنو.

سلطان محمود غزنوي

سلطان محمود د سبکتګین زوی و چې په غزنوي مشهور دی، د نړۍ له مشهورو پاچاهانو څخه ګڼل کېږي. هغه په ۳۶۲ هـ.ق کال نړۍ ته سترګې پرانستې او په ۴۲۱ هـ.ق کې وفات شوی دی.
سلطان محمود غزنوي د پاچهۍ پر تخت له کښېناستو سره سم ورو ورو د خپلې خاورې لمن پراخه کړه او په نسبتاً لنډ وخت کې و توانېد لوی حکومت جوړ کړي، چې بریدونه یې د هند د نیمې وچې تر زړه او منځنۍ آسیا او د هغه مهال فارس پورې رسېدلي وو.
سلطان محمود یوازې د خپل وخت لوی فاتح او تکړه سرلښکر نه و، بلکې له پوهې او ادب سره یې هم ډېره مینه لرله او په دغه لارکې یې بشري فرهنګ ته لوی خدمتونه کړي دي.
غزني د سلطان محمود پلازمېنه، د دغه مدبر او علم پالونکي پاچا په حکومت کې په یو مهم فرهنګي مرکز او د علم او ادب په زانګو بدل شوی و. د غزني ښار هغه

سلطان محمود غزنوي

مهـال لوېې ودانۍ، ویالې، بازارونه، باغونـه، جوماتونه او علمي مرکزونه لرل. ابوریحان البیروني، ابوالفضل بیهقي، ابو سـعید گردیزي، خواجه احمد بن حســن میمندي، ابونصرمشکان غزنوي، عنصري بلخي، فرخي سیسـتاني، ابوالقاسم فردوســي او نور پوهان او لوی ادیبان، چې هر یو یې د خپـل وخت د علم او ادب په ډگرکې مشـهور وو، ددغـه علم او ادب پالونکې پاچا په زمانه کې اوسېدل.

سـلطان محمود غزنوي د اسـلام او افغانستان له ویاړونو څخه یو ویاړ دی او د علم په ډگر کې به د هغه خدمتونه هېڅکله هېر نشي.

علي شېرنوایي

علـي شـېرنوایي زمـوږ د هېواد له نومیالیـو وزیرانو او علمــي او ادبي شـخصیتونو څخه و. علي شـېرنوایي پـه ۸٤٤ هــ.ق. کال په هرات کـې، چې د تېموریانـو پلازمېنه او د علـم او تمدن له مهمومرکزونو څخه و، نړۍ ته سترگې پرانستې او په ۹۰٦ هـ. ق کې وفات شو.

علـي شـېرنوایي له هماغه وړوکتوبه د علم او ادب زده کړې تــه مخه کړه او د خپل وخت له نامتو استادانو څخه یې علوم زده کړل.

کله چې سـلطان حسـین بایقرا په ۸۷۳ هـ. ق کې پاچا شو، علي شېرنوایي یې خپل وزیر وټاکه. نوایي سربېره پردې چې یو باتدبیره وزیر و، د هېواد په چارو کې له پاچا سره مرسته کوله. د علم او پوهې په خپرولو او د مدرسـو او علمي مرکزونو په جوړو لو کې یې ارزښـتناک او نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي.

نوایــي پــه خپله لیکوال او شـاعر و، د عالمانو او ادیبانو درناوی به یــې کاوه او د علم د خاوندانو په خدمت کې یې له هېڅ کاره مخ نه اړاوه.

امیر علي شیر نوایي

د هــرات د تېموري پاچهانو د علم پالنې او علي شــېرنوایي د علمــي خدمتونو په پایله کې، په ټول هېواد او په تېره بیا په هرات کې علمي او ادبي فضا او چاپېریال رامنځته شو چې د علم او ادب د سمسـورتیا او پراختیا او د تألیف او څېړنې او ابتکار د زمینو د رامنځته کېدو سبب شو. له هغو مدرسو څخه چې د دغه علم پالونکي وزیر په نوښت جوړې شوې، د اخلاصیه، شـقائیه، خسـرویه او نظامیه مدرسې یادولای شو.

د علي شیر نوایي بل مهم کار د مدرسو او علـمي مرکزونو،

زده کوونکو او پوهانو لپاره د اوقافـــو د تخصیص (پیســو) ډېرول وو. د دغو مرکزونو ملي عواید د علمي مرکزونو په جوړولو او د زده کوونکو او اســتادانو په لګښــتونوکې لګېدل. که د یوه هېواد چارواکـــي لــه پوهې ســره مینه ولري او دعلم او پوهــې د خاوندانو درناوی وکــړي او د زده کړو او څېړنو زمینه برابره کړي، په بشپړ باور ویلای شو چې د ناپوهۍ تیارې به له منځه لاړې او هېواد به پرمختګ وکړي.

د علم پالنه او د پوهانو درناوی د هېواد پالنې له نښو څخه دي.

فعالیت

زده کوونکــي دې د غزنویانــو او تېموریانــو په زمانه کــې په غزني او هرات کــې د علم او تمدن د پرمختګ په اړه په خپلو کې خبرې وکړي.

ارزونه

١- سلطان محمود غزنوي څوک و؟

٢- د سلطان محمود غزنوي د وخت دځینو پوهانو او ادیبانو نومونه واخلئ.

٣- علي شېرنوایي څوک و؟

٤- د پوهې او ادب په ډګر کې د علي شېرنوایي خدمتونه کوم دي؟

٥- د واکمن له خوا دعلم پالنه د هېواد په وده او پرمختګ کې څومره اهمیت لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هرات او غزني د فرهنګي ارزښت په اړه مقالې ولیکي چې له لسو کرښو څخه لږه نه وي.

زغم او د یو بل منل

انسـان ټولنیز موجود دی، له نورو انسانانو پرته په ګوښي ډول ژوند نشي کولای. ټولنیز ژوند شرایط، غوښتنې او آداب لري چې د هغو له رعایت پرته ژوند ستونزمن کېږي. د ټولنیز ژوند له غوښتنو څخه یو هم زغم او یو د بل منل دي. په دغه لـوست کې به په دې اړه ګټور مطالب زده کړو.

زغم د ښو او انساني فضیلتونو له جملې څخه دی. څوک چې د نورو پر وړاندې له زغم څخه کار اخلي، خپل ځان او نور له ستونزو څخه ساتي.

زغـم پـه حقیقـت کې یو ډول صبـر دی چې زغم لرونکی انسـان یـې د نورو انسـانانو د ژوند د نابرابـرو او ناسـمو غیرګونونو پر وړاندې کوي. په دې معنا چې کلـه کله، یو څوک په قصدي او یا هم غیرقصدي توګه بې دلیله بل چاته مادي او یا معنوي زیان رسـوي او د هغه د ناراحتۍ اسـباب رامنځته کوي. که څه هم هغه څوک چې زیان یې لیدلی وي، حق لري قانوني مراجعو ته لاړ شي او هغـه څـوک چې تېری یې پرې کړی، د قانون منګولو ته وسـپاري او خپل حق لاسـته راوړي، خوښه به دا وي چې، که زیان ډېرلوی نه وي، له زغمه کار واخلي او مقابل لوری د انتقام اخیستلو له قدرت سره سره وبښي.

د زغم او ځان تېرېدنې بل اړخ دا دی چې په ځینو مواردو کې ډېر ځله انسان اړکېږي، چې له نورو سـره یو ځای ژوند وکړي او له داسـې کسـانو سـره تعامل وکړي چې د کړنې، عاداتو او سلیقې له پلوه له ده سره اختلاف لري. دغه حالت غوښتنه کوي چې انسان د ستونزو او جګړې او اړ و دوړ د نـه رامنځتـه کېدلو لپاره له صبر او ځان تېرېدنې څخه کار واخلي. د ټولنې د ګډ ژوند او سـولې

لپاره، ځینې چارې وزغمي چې د هغه له ذوق، غوښتنې او شخصي عاداتو سره همغږي ونه لري.
زغم او ځان تېرېدنه د ګډ ژوند له مهمو اړتیاوو او د هېوادپالنې له عناصر و څخه دي. ښه سړی تل دخپلو هېوادوالو پر وړاندی له زغم او ځان تېرېدنې څخه کار اخلي او هڅه کوي د ټولنې د خلکو ترمنځ د فتنې او اړ و دوړ، نښتې او جګړې د رامنځته کېدو زمینه له منځه یوسي.

په هغو هېوادونوکې چې د زغم او ځان تېرېدنې فرهنګ شته، په سوله او ورورۍ کې ژوند کوي، امنیت تأمین او سیاسی، ټولنیز، او اقتصادي ثبات واکمن وي. زموږ په دیني نصوصو کې که قرآن کریم دی او که نبوي حدیثونه، په وار وار په زغم، آسانۍ او یو د بل په منلو ټینګار شوی دی. د قرآنکریم او نبوي سنتو له مخې یو ښه مسلمان باید د صبر، زغم، معنوي کرم او خیر غوښتنې ښه خویونه ولري.

بې له شکه د دغو خویونو لرل په ټولنه کې د صبر، ځان تېرېدنې او د زغم د فرهنګ د دود سبب کېږي او آرامي او ټولنیز ثبات رامنځته کېږي.

فعالیت

زده کوونکي دې په پنځه کسیزو ډلو ووېشل شي، بیا دې د زغم او یو بل ته د درناوي په اړه په خپلو کې خبرې وکړي.

ارزونه

۱-زغم او یوبل منل وګړي او ټولنه له کومو ستونزو ساتي؟
۲- ولې زغم تر غچ اخیستلو ښه دی؟
۳- زغم د هېواد پرامنیت او آرامۍ څه اغېز لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د زغم او یو بل ته د درناوي د ګټو په اړه یوه مقاله ولیکي چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

د افغانستان جغرافيايي موقعیت او د هغه ارزښت

زموږ ګران هېواد افغانستان د آسیا په زړه کې پروت او له ځانګـــړي ارزښت څخه برخمن دی. آیا پوهېږئ چې افغانستان په شمال، سوېل، ختيځ او لـــوېديځ کې له کومو هېوادونو ســــره ګډه پوله لري؟ دا هغه مطالــــب او مفاهيم دي چې په اړه به يې په دغه لوســـت کې معلومات ترلاسـه کړئ.

زموږ ښايســـته او ګران هېواد، افغانســـتان د آســـيا په مرکز يا زړه کې پروت دی. شـــمال لور ته يې ازبکســـتان، تاجکســـتان او ترکمنســـتان، ختيځ او ســـوېل ختيځ لوري ته د پاکســـتان له اســـلامي جمهوريت سره د ډيورند تپل شوې کرښه په نښه شوې چې افغان ولس هغه په رسميت نه پېژني، لوېديـــځ تـــه يې ايران او شـــمال ختيځ لور ته يـــې د چين د خلق جمهوريت پروت دی. افغانســـتان (٦٥٢٠٠٠) کيلو متر مربع مساحت لري.

افغانستان د همدغه مهم جغرافيايي موقعيت له مخې د تاريخ په اوږدو کې له ځانګړي ستراتيژيک ارزښـــت څخه برخمن دی او د مرکزي آسيا، ســـوېلی آسيا او منځني ختيځ ترمنځ د تمدنونو او د فرهنګونو د يو ځای کېدلو او جلا کېدلو د ســـيمې په توګه يې د ســـيمې د هېوادونو په اقتصادي، سياسي ټولنيز او فرهنګي ژوند کې مهم رول لوبولی دی.

دغـــه مهم جغرافيايي موقعـــيت د دې سبب شـــوی، چې د نړۍ د لويو توسعه غوښتونکو، لکه داريوش، کوروش، مقدوني سکندر، چنګيز او مغولو پام ځانته راواړوي.

د افغانســـتان د اقتصادي ارزښـــت په اړه له دغه ځايه معلومات پيدا کولای شـــو، چې دغه هېواد د

وربښـــمو د لويې ســـوداګريزې لارې په اوږدو کې پروت و، له منځنۍ آســـيا نيولې د آسيا تر سويل، منځني ختيځ او اروپا پورې اوږده سيمه يې نيولې وه. همدا راز افغانستان په سيمه کې د سوداګريزو اړيکو د يو ځای کېدلو د ســـيمې په توګه مهم او بنســـتيز رول لوبولی دی او د هندوستان د کونجي (کلی)، د تګلورې، ګذرګاه، لويې لارې په نومونو ياد شوی دی.

افغانستان د مـــهم جغرافيايي موقعيت له امله د لـــويو بشري تمـــدنونو، لـــکه زردشتي، بودايي، يونان - باختري او د اسلام د ودې، پرمختګ او پراختيا په لاره کې مهم رول لوبولی دی.

نن په افغانستان کې ډېر قومونه او توکمونه، لکه پښتانه، تاجـــک، ازبک، ترکـــمن، نورســـتاني، بلـــوچ، پشه يي، هزاره، عرب، ايماق، افشار او... يو د بل تر څنګ د وروڼو په شان ژوند کوي او يو واحد ملت جوړوي.

د افغانســـتان رســـمي ژبې، پښـــتو او دري دي. د افغانســـتان د خلکو دين اســـلام دی. د افغانستان پرخلکو خپل هېواد ډېر ګران دی، مينه ورسره کوي او د هغه د ودې او پراختيا لپاره هاند او هڅه کوي.

فعاليت

زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشـــل شـــي. لومړۍ ډله دې د افغانســـتان د جغرافيايي موقعيت او دويمه ډله دې د هغو د ارزښت په اړه خبرې وکړي.

ارزونه

۱. د افغانستان څلور خواوې بيان کړئ؟
۲. د افغانستان مساحت ووايئ.
۳. د وربښمو لاره له کوم ځايه پيل او تر کوم ځايه رسېدله؟

کورنۍ دنده

زده کوونکـــي دې د افغانستان د جغرافيايي موقعيت او د تمدنونو په وده او انکشاف کې د هغو د ونډې د ارزښت په اړه مطالب تيار او په ټولګي کې دې ولولي.

د شورى مقام او ګټې يې

شورى او مشوره د ټولنيز ژوند له مهمو اصولو څخه يو اصل دى. د تو پيرونو د له منځه وړلو لپاره سمې پرېکړې ته رسېدل په ډېرو حالاتو کې مشورې ته اړتيا رامنځته کوي. په مهمو پېښو کې چې د خلکو او هېواد له برخليک سره تړاو لري، بايد د ولس رايې ته مراجعه وشي.

په دغه لوست کې به د شورى او د هغې د ارزښت په اړه معلومات ترلاسه کړو.

شورى د اسلام په سپيڅلي دين کې له ثابتو اصولو څخه يو اصل دى او د مشورې او د کارونو په اړه د نورو د نظر پوښتلو په معنا ده. په اسلام کې د شورى پر اهميت د ټينګار لپاره په قران کريم کې يو سورت د (شوري) په نوم راغلى دى.

د قرآن کريم د لارښوونو پر بنسټ په کارونو کې مشوره کول د مؤمنانو له صفتونو څخه يو صفت دى. اسلام خپلو لارويانو ته امر کوي چې خپل کارونه د شورى له لارې پاى ته ورسوي. الله تعالى د مؤمنانو په اړه فرمايي: {وامرهم شورى بينهم}، [ژباړه: يعني مؤمنان خپل کارونه د شورى له لارې پاى ته ورسوي.]

د شورى دايره له کورنۍ پيلېږي، په تدريجي ډول پراخېږي او د ولس او حکومت تر اړوندو موضوعاتو پورې رسېږي.

د کورنۍ غړي بايد د مشورې له لارې خپلې ستونزې هوارې کړي او د کلي او سيمې ستونزې بايد د کلي او خلکو د مشورې له لارې حل شي. په همدې توګه بايد د ولسوالۍ او ولايت د مهمو پرېکړو په اړه د خلکو نظر واخېستل شي. په مهمو او ملي برخليک جوړونکو مسايلو کې سمو او ګټورو پرېکړو ته د رسېدلو لاره يوازې د شورا او خلکو د رايې اخيستلو له لارې شوني وي.

د شورا د اصل پلي کول نه يوازې سمې او معقولې پرېکړې ته د رسېدلو لامل کېږي، بلکې په دغو پرېکړو کې د خلکو مرسته او ملاتړ هم ځانته جلبوي.

باید پوه شو چې د شورا په نشتوالي کې د ټولو خلکو پر برخلیك د یوه سړي نظر او استبداد حکومت کوي او د زور واکۍ، خپلسرۍ او ځینو خلکو د طغیان او سرغړونې لار هواریږي او ټولنه او هېواد د تباهۍ او ضعف په لور ځي.

هرڅومره چې په ټولنه کې د شورا اصل ټینګ وي او په پلي کولو کې یې ډېرې هڅې وشي، په هماغه کچه ولس او هېواد له ځواك، ټولنیز، سیاسي او اقتصادی ثبات څخه برخمن کېږي.

په ټولنه او کورنۍ کې یو آرام او نېکمرغه ژوند ته د رسېدو لپاره لازم دي په کور، دفتر، کلي او ښار او د دولت او د حکومت په چاروکې د شورا اصل په یو ټولیز فرهنګي اصل واړول شي.

له هر ډول استبداد سره مبارزه او د شورا پر اسلامي او انساني اصل پابندي له هېواد او ولس سره د مینې معنا لري. په مختلفو ډګرونو کې د یوه پیاوړي او پر مختللي افغانستان د شتون لپاره په ټولو اړخونو کې د شورۍ د اصل پلي کېدل او په پام کې نیول لازم دي.

راځئ د شورۍ عملي کول له کور، ښوونځي او ټولګي څخه پیل کړو او خپلې ټولې پرېکړې د شورۍ له لارې ونیسو.

فعالیت

زده کوونکي دې په پنځه کسیزو ډلو ووېشل شي او د شورۍ د ګټو او د استبداد له زیانونو څخه دې یو لست جوړ کړي.

ارزونه

۱. شورۍ څه ته وایي؟
۲. د اسلام له نظره شورۍ څه اهمیت لري؟
۳. که شورۍ نه وي، د هغې پرځای څه شی واکمن کېږي؟
۴. ولې د شورۍ پر اصل ټینګار د هېواد په استقرار او ثبات کې رول لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د شورا او د هغې د ګټو په اړه یوه مقاله ولیکي چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

پنځه ویشتم لوست

د گران هېواد د رښتينو خدمت کوونکو ياد

محمود طرزی

داکتر عبدالوکيل

آيا کله مو سوچ کړی، هغه پرمختگ چې په گران هېواد کې يې گورو، څنگه لاسته راغلی او چا د هغې په معنوي او مادي ودانولو کې ونډه اخيستې ده؟

په دغه لوست کې هڅه کوو د هېواد ځينې رښتيني او مخلص خدمت کوونکي زامن وپېژنو.

د هېوادونو پرمختگ داسې کار نه دی چې په څو کلونو کې سرته ورسېږي. د يوه هېواد معنوي او مادي ودانول ډېر وخت ته اړتيا لري او د څو نسلونو د پرله پسې هڅو پايله ده.

هېواد د يوه لوی کور په شان دی. د کور ټول غړي، لوی او واړه د هغه د ودانولو لپاره کار کوي. په پای کې د دغې ودانۍ قوت او ښايست د هغو کسانو د نه ستړي کېدونکو هڅو او زيار پايله ده چې د هغه په ودانولو کې يې ونډه اخيستې او د دغه لوی کور، يعنې هېواد د جوړوونکو حيثيت لري. هغوی هر يو په خپل وخت او د خپلې کاري وسې تر بريده زموږ د هېواد د سمسورتيا او پرمختگ لپاره کار کړی دی. چا د ښوونې او روزنې په برخه کې، چا د کرنې په برخه کې، چا علمي او څېړنيز مهم کارونه سرته رسولي او د پوهنتونونو او لوړو زده کړو او علمي څېړنو په برخه کې يې کار کړی، ځينو هم په نورو ډگرونو کې لکه دين، سياست، اقتصاد، ښار جوړولو، فرهنگ او داسې نورو برخو کې ښکاره او د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي.

د هېواد د دغو خدمت کوونکو ياد، د هغو د ارزښتمنو کارونو ستاينه، د هغوی د کارونو پر ارزښت پوهېدنه، هغوی ته زموږ د وفادارۍ او درناوي نښه ده. دغه کار زموږ د ننيو او سبانيو نسلونو له شرعي او ملي دندو څخه دی.

په لاندې کرښو کې د بېلگې په توگه د هېواد هغه رښتيني خدمت کوونکي شخصيتونه په لنډه توگه

یادوو چې هر یو یې په یوه تاکلي ډګر کې ولس ته ارزښتناك او د ستاینې وړ خدمت کړی دی.

علامه محمود طرزي

علامه محمود طرزی زموږ د هېواد له مهمو شـخصیتونو څخه دی چې د ژورنالیزم او مطبوعاتو، بهرنیـو اړیکو، ډیلوماسـۍ او څېړنې په برخه کې یې نه هېرېدونکـي خدمتونه کړي دي. د بهرنیو چـارو د وزارت فعالول او د(سـراج الاخبار) د جریدې تاسـیس د علامه محمـود طرزي له ډېرو مهموکارونو څخه دي.

غلام محی الدین انیس

غـلام محـی الدین انیس زموږ د هېـواد د مطبوعاتو د ډګر مهم شـخصیت و چې د انیس د ملي ورځپاڼې تاسیس د هغه له مهمو کارونو څخه ګڼل کېږي.

مولوي عبدالغني

مولـوي عبدالغنـي، چـې د قلعهٔ بلند مولـوی صاحب په نامه مشـهور و، زموږ د هېـواد له لوړو شـخصیتونو څخـه و. خپـل ژوند یې د شـرعي علومو په تدریـس کې تېر کـړی او د قلعهٔ بلند د مشهورې مدرسې په جوړولو یې ډېر پوهان روزلي او ټولنې ته یې وړاندې کړي دي.

علي احمدخان پوپل

زموږ د هېواد له علم پالونکو شـخصیتونو څخه و چې د ښـوونې او روزنې وزارت د مسـوولیت ترڅنګ یې د هېواد د پرمختیا او سمسورتیا لپاره بنسټیز کارونه سرته رسولي دي.

پوهاند عبدالحی حبیبي

پوهاند عبدالحی حبیبي زموږ د هېواد ستر شخصیت او یو پوه او پېژندل شوی څېړونکی دی چې د څېړنې او تالیف په برخه کې ډېر اغېزمن اثرونه لري او د هېواد علمي او فرهنګي خزانو د ښوولو په برخه کې یې ډېره موده کار کړی دی.

استاد عبدالرحیم نیازی

استاد عبدالرحیم نیازی زموږ د هېواد له نوابغو څخه و چې په خپلو علمي او ژورو وړاندوینو سره د افغانستان پروړاندی د وخت د شوروی اتحاد ناوړو نیتونو ته ځیر شوی و. د دغه ګواښ د مقابلې لپاره یې شپه او ورځ علمي او فکري مبارزه وکړه. د اسلامي غورځنګ په جوړولو کې یې ډېره ونډه واخیستله، چې وروسته یې زموږ پر هېواد د شوروي د ورانوونکي یرغل پروړاندې په مېړانه جهاد او مقابله وکړه.

دکتور عبدالوکیل

ارواښاد دکتور عبدالوکیل زموږ د هېواد د کرنې د ډګر له مشهورو استادانو او متخصیصنو څخه و چې ټول ژوند یې په خپلو هڅو د افغانستان د کرنې په پراختیا کې تېر کړی دی.

دکتور عبدالوکیل د کابل پوهنتون د کرنې د پوهنځي رئیس او استاد او د کرنې وزیر په توګه د افغانستان ولس ته بنسټیز او عملي خدمتونه کړي دي. دکتور عبدالوکیل د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې او په ډېرو سختو شرایطو کې د خپل ملت ترڅنګ او د هېواد په چوپړ کې پاتې شو. له ټولو مادي امتیازاتو او آرام او هوسا ژوند څخه تېر شو. له جسمي ناروغۍ سره سره یې کلو او بانډو ته تګ راتګ کاوه او د غلو، دانو او سابو د نوو تخمونو د دودولو او نویو نیالګیو او مېوو په راوړلو کې یې له بزګرانو سره مرسته کوله. د ډېرو ښو او ګټورو مېوو او سابو دودېدل چې نن په افغانستان کې دي، په تېره بیا زرد آلو، منې او الوچې د دکتور عبدالوکیل د نه ستړي کېدونکو هلو ځلو برکت دی چې د جاریه صدقې په توګه به د هغه لپاره پاتې وي.

د هېواد د ټولو ملي شخصیتونو او خدمتګارانو یادول په یو لوست کې ناشونی کار دی، له دې امله د هېواد د ځینو رښتینو زامنو نومونه چې هر یوه په خپل وار د افغانستان د پرمختګ لپاره ارزښتناک خدمتونه کړي، د بېلګې په توګه یادوو:

عبدالهادي داوي، دکتور عبدالحکیم ضیایي، شهید انجنیر حبیب الرحمن، مولانا شاه محمد رشاد، مولانا خال محمد خسته، شهید مولوي حبیب الرحمن، پوهاند وفي الله سمیعي، مولانا محمد سلیم راغي، شهید سیف الدین نصرتیار، استاد مشعل هروي، استاد برشنا، عبدالله ملکیار، غلام محمد میمنګی، عبدالمجید زابلي، ، غلام محمد غبار، شهید ډاکټر محمدعمر، مېرمن کبرا نورزایي، شهید سید اسمعیل بلخي، مولوي غلام نبي کاموي، غلام سرور ناشر، مولوي

محمد ابراهیم کاموي، شهید مولوی محمدشاه ارشاد، مولوي فضل من الله فضلي، فخرالمشایخ میاګل جان آغا، شمس المشایخ مجددي، شهید منهاج الـدین ګهـیځ او د هېواد نور خدمتګاران.
کله چې په هېواد کې ګټور شـیان ګورو یا د مادي او معنوي پرمختګ کومه نښـه وینو او یا له کوم شـته نعمت څخه ګټه اخلو، باید په یاد ولرو چې دغه ځیزونه ټول زموږ د پلرونو او نیکونو د هاند او هڅو پایلې دي. موږ باید د خپلو تېرو خدمتګارانو خدمتونه په یاد ولرو او د هغوی ښه کارونه د خپل ژوند تګلاره وګرځوو او د ښېګڼې دعا ورته وکړو.
ښــه او هېوادپال افغان کله هم د خپل هېواد رښــتیني خدمتګاران نه هېروي، ځکه د اسـلام دین مسلمانان ته له هغو کسانو څخه چې له ده سره یې نیکي کړې، د منني په کولو امر کړی دی.

فعالیت

زده کوونکي دې له اړوند ښــار یا ولســوالۍ او ولایت څخه د هېواد د رښــتینو او مخلصو خدمت کوونکو د نومونو لست جوړ او د هغوی ارزښتناک خدمتونه دې ولیکي.

ارزونه

١. زموږ د هېواد پرمختګ د کومو کسانو د کار پایله ده؟
٢. د هېواد د رښتینو خادمانو د خدمتونو یادول د څه شي ښېلګه ده؟
٣. د هېواد زړه سواندي خدمت کوونکي پر موږ څه حق لري؟
٤. د ګران هېواد د تاریخ د لسو تنو ملي شخصیتونو نومونه واخلئ.
٥. دکتور عبدالوکیل څوک و او د هېواد لپاره یې کوم خدمت کړی دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هېواد د ځینو هېوادپالو شــخصیتونو په اړه یوه مقاله ولیکي چې تر لســو کرښو لږه نه وي.

اسلامي ورورګلوي

- ولې مسلمانان سره وروڼه ګڼل کېږي؟
- د اسلامي ورورګلوی مفهوم څه شی دی؟
- له اسلامي امت سره د مسلمانانو تړاو څه معنا لري؟
- زموږ ګران هېواد د اسلامي امت په منځ کې کوم دریځ لري؟

په دغه لوست کې به پر نورو مطالبو سربېره د پورتنیو پوښتنو ځوابونه هم پیداکړو.

الله ﷻ ټول انسانان له یوه پلار او موره پیداکړي او د ټول بشریت اصل او نسب حضرت آدم او حضرت حوا علیهما السلام ته ورګرځي. قرآن کریم په دې اړه فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾ {د حجرات سورة ۱۳ آیت}

"**ژباړه**: ای خلکو! موږ تاسو له یوه نر او ښځې پیداکړي یاست او تاسو مو قومونه او قبیلې ګرځولي یاست، ترڅو یو بل وپېژنئ. په رښتیا چې په تاسو کې خدای پاک ته هغه څوک نژدې دی چې ډېره تقوی ولري."

پر انساني اړیکو سربېره، بله ربېنه چې انسانان سره یوځای کوي، دیني وروګلوي ده. اسلام د الهي ادیانو د وروستي دین په توګه په ټوله نړۍ کې خپل لارویان د ایمان او عقیدې پر بنسټ وروڼه ګڼلي او له هغوی څخه يې یو موټی امت جوړ کړی دی.

قرآن کریم د مؤمنانو په اړه، چې له یو بل سره ورونه دي داسې فرمایلي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾

{الحجرات:۱۰} [ژباړه: په رښتیا چې مؤمنان سره ورونه دي.]

بل ځای الله جل جلاله مسلمانان سره یو امت ګڼلی. ﴿إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ﴾ {الأنبیاء: ۹۲} [ژباړه: په رښتیا چې ستاسو امت، واحد امت دی او زه ستاسو رب یم، نو یوازې زما عبادت وکړئ.]

اسلامي ورورګلوي هماغه ژوندی ایماني روح او ساده احساسات او عواطف دي چې یو مسلمان یې د بل مسلمان پر وړاندې په زړه کې لري. ددغه روح او احساس اغېزې په خیر غوښتنې، مرستې، ملاتړ، لاسنیوي، نصیحت او ګډو هڅو کې عیني انځور پیداکوي.

د اسلامي ورورګلوۍ نورې پایلې د مسلمانانو په منځ کې د قومي، نژادي، ژبنیو، سیمه ییزو او ټولنیزو دریځونو د اختلافات له منځه تلل دي؛ ځکه د خلکو په منځ کې د لوړوالي معیار (تقوی) ده چې ټولې ښېګڼې او فضایل پکې نغښتې دي.

مسلمان د خپل مسلمان ورور په خوښۍ، خوښ او په غم، غمجن کېږي. د افغانستان مسلمان ملت چې د اسلام له هماغو لومړیو څخه پر دغه دین مشرف شوی او د اسلام په خپرېدو او اسلامي تمدن ته یې په خدمت کې ډېرې سربښندنې کړې، د اسلامي امت مهمه برخه جوړوي. زموږ ملت تل د نړۍ د مسلمانانو ترڅنګ ولاړ دی او ټینګ ملاتړ یې کوي، لکه د فلسطین او د مسلمانانو د لومړۍ قبلې آزادي.

د اسلامي نړۍ د مهمو موضوعګانو د اوارولو لپاره د نړۍ له مسلمانانو سره زموږ د مسلمان ولس پیوستون یوه څرګنده بېلګه ده، چې د اسلامي نړۍ له خاورې او مقدساتو څخه زموږ د ولس ملاتړ ګڼل کېږي.

افغانستان د اسلامي امت په منځ کې ځانګړی دریځ لري او د اسلامي هېوادونو د همکارۍ د سازمان (O.I.C) د جوړښت له پیله د دغه سازمان غړیتوب لري، ځکه دغه سازمان د اسلامي هېوادونو د یووالي او مرستو سمبول دی.

د مسلمان شخص د هېوادپالنې له غوښتنو څخه یوه داده چې ځان د ستر اسلامي امت یوه برخه ګڼي. هر هېوادپال افغان د خپل ملت ترڅنګ له اسلامي ملت سره هم مینه لري او د ټولو مسلمانانو د خیر او پرمختګ لپاره هڅې کوي.

لنډيز

بې اتفاقي د مسـلمانانو د کمزورۍ لامل کېږي. له همدې امله خدای پاک مسلمانان له اختلاف څخه منـع کړي او فرمايي: ﴿واعتصموا بحبل الله جميعاً و لا تفرقوا﴾ {ال عمران ۱۰۳} [ژباړه: د خدای پاک په رسۍ(قرآن کريم) منګولې ولګوئ او بې اتفاقي مه کوئ.]

حضرت محمدﷺ په يو حديث شريف کې فرمايي: [مثل المؤمنين في توادهم و تعاطفهم و تراحمهم کمثل الجسـد الواحد اذا اشـتکی منه عضو تداعی له ساير الجسد بالسهر و الحمی] ژباړه: مؤمنان په دوسـتی او مهربانۍ کې يو تر بله د يو تن په څېر دي، هرکله چې د تن يو غړی په رنځ اخته شـي، د تن نور غړي ورسره په بې خوبۍ او تبه کې رنځېږي.

فعاليت

زده کوونکي دې د مضمون د اسـتاد په مرسـته په ډلو کې د مسلمانو ملتونو ترمنځ د ورورګلوۍ په اړه بحث وکړي.

ارزونه

۱- هغه ربښه چې مسلمانان سره يوځای کوي، کومه ده؟

۲- د اسلامي ورورګلوۍ عملي ګټې او موخې کومې دي؟

۳- يو مسلمان د اسلامي امت د قضاياوو پر وړاندې څه دنده لري؟

کورنۍ دنده

د ورورګلوۍ په اړه مقاله وليکئ چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

د چاپېريال ساتنه

زده کوونکي به په دې لـوست کې د استوګنې له چاپېريال، د استوګنې د چاپېريال له مهمـو پديدو او د اسـتوګنې د چاپېريال له سـاتنې سـره او د هغو په ساتنه کې د انسـانانو له ونډې سره آشنا شي.

د اسـتوګنې چاپېريال د ځمکې هغه ټاکلې سـيمه ده چې د انسـانانو، الوتونکو او د وچې او اوبو د حېواناتو د ژوندانه د تېرولو لپاره يې مناسبه حياتي زمينه برابره کړې ده.

د استوګنې په چاپېريال کې مهمې حياتي پديدې دا دي:

- د ژوندانه د دوام لپاره د يوې سيمې طبيعي موقيعت،
- د خاورې شتون،
- د تنفس لپاره د مناسب اکسيجن او هوا شته والى،
- د بېلابېلو حيواناتو شته والى،
- مطلوبه او مناسبه آب او هوا،

په طبيعت کې دغه ټولې پديدې په متقابل ډول د ژوندانه په وده او پراختيا کې عمل کوي. انسانان د اشـرف المخلوقات په توګه د دغه حياتي سيسـتم په محور کې ځاى لري او له هغه څخه د ګټې اخيستنې په څرنګوالي کې اساسي ونډه لري. له دې امله د انسان د استوګنې چاپېريال د ځمکې پر مخ د هر انسان لپاره د اوسېدو او روزنې اصلي ځاى ګڼل کېږي، د مور په څېر يې هر يو په غېږ کې نيولى او په وده او روزنه کې يې ارزښتناکه ونډه لري. له دې امله د زېږېدو ځاى او هغه چاپېريال ته درناوى چې انسان پکې ژوند کوي او له نعمتونو څخه يې ګټه اخلي، يوه اخلاقي او انساني وجيبه بلل کېږي. بايد هر هېوادپال افغان د چاپيريال په ساتنه کې ځان مسؤول وګڼي.

له ککړتیا څخه د استوګنې د چاپېریال پاکوالی په درېو اصلونو باندې ولاړ دی:
- له ککړتیا څخه د هوا پاک ساتل،
- د جاري اوبو او اوبلنو (مایع) عناصرو پاک ساتل،
- له ککړتیا او زیانمنو عناصرو څخه د خاورې پاک ساتل.

باید زیاته کړو چې زموږ د ژوندانه د تنفس او پایښت لپاره د اکسیجن ګاز او پاکه فضا یو مهم رکن جوړوي، له دې پرته ژوند له منځه ځي. اړینه ده چې د ځمکې هوا د سون د توکو، د ډېرو سکرو، پلاستیک، د ټیرونو او ربړونو د سوځولو له ککړو دودونو څخه ځان وساتو. ګلخانه یي ګازونه، لکه کاربن ډای اکسایډ، کاربن مونو اکسایډ، متان ګاز او نور زیان لرونکي ګازونه چې له ماشینونو او کارخانو څخه وځي او هغه ګازونه چې د خځلو له انبارونو څخه په ښارونو او کلیو کې رامنځته کېږي، باید له زیانونو څخه یې انسانان او څاروي وساتو.

د هغو ګازونه مخه ونیول شي، چې د موټرو له ماشینونو او عراده جاتو څخه رامنځته کېږی او یا د خښتو له بټیو او حیواني محروقاتو څخه فضا ته داخلېږي، هوا ککړوي او د سیمې اوسېدونکي له ډول ډول ناروغیو سره مخامخوي.

هغه اوبه چې د هایدروجن او اکسیجن له ترکیب څخه جوړېږي او یوه حیاتي ماده ده، باید په مکروبونو ککړې نشي. باید د څښلو اوبه صحي وي چې په انساني او حېواني ټولنه کې د ناروغیو د خپرېدو مخنیوی وشي. د ژوندانه په دوام کې د حیاتي مادې په توګه مرسته وکړي. له دې امله اړینه ده چې جاري اوبه، د ځمکې لاندې اوبه او د ویالو او سیندونو اوبه ککړې نه کړو، پرته له دې د انسانانو او حېواناتو روغتیا ته زیان رسوي، د ناروغیو خپرېدل چټکوي او د کرنې تولیدات او د اوبو ژوي مسموم او اغېزمن کوي.

خاوره د استوګنې د چاپېریال یوه بله مهمه حیاتي ماده ده چې د انسانانو، حېواناتو او په ځنګلونو او دښتو کې د وحشي حېواناتو له ژوند سره مستقیماً اړیکې لري. حاصل ورکوونکې خاوره چې په هغو کې عضوي مواد ډېر وي، په کرنه کې د کرنې د تولیداتو لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کوي. کوښښ باید وکړو چې خاورې له تېزابي کېدو څخه وساتو. هغه خاوره چې د سیلابونو بهېدو ته څېرمه وي، که چېرې د هغوی مخنیوی ونشي، نو کرنیزې ځمکې به له منځه لاړې شي.

له هېوادپالنې سره په تړاو ښایي د اوبو، خاورې او هوا ارزښت درک کړو او په مجموع کې د استوګنې خپل چاپېریال له طبیعي خطرونو او ککړتیا څخه وساتو چې له یوې خوا زموږ د استوګنې

چاپېریــال د ژوندانه لپاره ښــه شــي او له بلې خوا د یوه هېوادپال په توګــه د خپلې خاورې او هوا پر وړاندې خپل مسوولیت سرته ورسوو او درناوی یې وکړو.

فعالیت

زده کوونکې دې په دوو ډلو وویشــل شي، لومړۍ ډله دې د استوګنې د چاپېریال په اړه څرګندونې وکړي او دویمه ډله دې د اســتوګنې د چاپېریال د مهمو حیاتي پدیدو نومونه واخلي او پایله دې په ټولګي کې ووایي.

ارزونه

۱. خاوره د استوګنې په چاپېریال کې څه ونډه لري؟

۲. څنګه د هېواد د ککړتیا مخنیوی وکړو؟

۳. د اوبو ککړتیا د انسانانو ژوندانه ته څه ډول زیانونه رسوي؟

د حکومت پر وړاندې د خلکو د ندې

د حکومــت پــر وړاندې د خلکو دندې د ټولنې د ســوکالۍ او نیکمرغـی او د وګړو ګډو موخو ته د رسیدو لپاره له مرستې او کوښښ څخه عبارت دي. خلك او حکومت له یو بل سره متقابلې اړیکې لري. حکومت د خلکو له مرســتې پرته خپلې دندې او ماموریت په ســمه توګه سرته نشي رسولای او خلك هم د حکومت له مرستې پرته خپل سیاسي، ټولنیز، اقتصــادي او فرهنګي ژوند په سمه تــوګه پر مخ نشي وړلای.

په دې لوست کې به د حکومت پر وړاندې د خلکو د دندو په اړه مطلب ولولو.

د نظام پر وړاندې د خلکو مهمې دندې په لاندې ډول دي:

۱. قانون ته درناوی: قوانینو ته درناوی په ټولنه کې د پرمختګ او امنیت لامل کیږي. قانون ته غاړه نه ایښودل بې نظمي رامنځته کوي چې په بېلا بېلو برخوکې د بېوزلۍ او وروسته پاتې والي سبب کیږي او زیان یې د ټولنې ټولو خلکو ته رسیږي. که په یوه هېواد کې سم حکومت وي، خو خلــك د قانون درناوی و نه کړي، هېڅ ډول بدلون، پرمختګ او اصلاحات به رامنځته نشي. په داسې دولت کې د کارونو سرته نه رسول او د قانون ماتول منځته راځي چې د خلکو خیر او ګټه پکې نه وي.

۲. له دولت څخه ملاتړ: د دولت پر وړاندې د خلکو یوه مهمه دنده د پردیو د توطیو، دسیسو او تېریو پر وړاندې د نظام ساتنه ده. که دښمن وغواړي زموږ د نظام د نسکورولو لپاره په توطیو او جګړو لاس پورې کړي، زموږ خلك د جګړې ډګر ته راوځي او په جهاد، سربښــندنو او شــهادت ســره له خپل حکومت او نظام څخه ساتنه کوي. د انګلستان پر وړاندې د افغانستان لومړۍ دویمه او دریمه

جګړه، د شوروي اتحاد په وړاندې جهاد او دريدل د تېرې کوونکو په وړاندې زموږ د خلکو د هېواد ساتنې څرګندې بېلګې دي.

۳. له دولتي ارګانونو سره مرسته: هر دولتي ارګان د ملي ګټو د تأمين او ساتلو لپاره رامنځته کېږي او د ټولو خلـــکو په خدمت کې وي. پارلمان د قانون د ترتيب او تدوين دنده لري. بېلا بېل وزارتونــه د هېواد او خلکو د ترقۍ، پرمختګ او نېکمرغۍ ضامن وي. قضايي بنســټونه او ادارې د خلکو تر منځ اختلافونه او نښتې په عادلانه ډول حل او فصل کوي. پوليس کورنی امنيت تأمينوي. ملي اردو د هېواد د پولو دفاع او ساتنه کوي. د هېواد پر ټولو وګړو او بچيانو لازمه ده چې د خپل دولت له ادارو سره مرسته وکړي.

۴. له حکومـت څخه اقتصادي ملاتړ: د خلکو بله دنده له حکومت ســره له اقتصادي او مالي پلوه مرسته کول دي. حکومت د خلکو خدمتګار وي او د خپلو دندو د سرته رسولو لپاره مالي لګښــت ته اړتيا لري. د دغو اړتياوو د پوره کولو لپاره پرعايداتو باندې ماليات ږدي؛ له دې امله ښــايي ټول خلک په رښتيني ډول ماليه ورکړي.

۵. په لګښت کې سپما: د خلکو يوه بله دنده په لګښت کې سپما ده. خلک بايد د ډېرو اوبو، برېښنا، غوښې او نورو لومړنيو توکو په لګښت کې سپما وکړي. که چېرې د اوبو نل خلاص وي، بايد بند شي، چې د زياتو اوبو د له منځه تلو مخه ونيول شي. هغه ټولنه چې له اسراف څخه ځان ســاتي له حکومت ســره د غذايي توکو د تأمين او د نورو اړتيا وړ توکو مرســته کوي. د کور مېرمن چــې د غذايي توکو او نورو مصرفي توکو ســپما کوي په حقيقت کې د کــور او د هېواد له اقتصاد سره مرسته کوي.

د اسلام ستر پيغمــبر، حضرت محمدﷺ فرمايلي دي:((ما عال من اقتصد)) ژباړه: څوک چې په لګښت کې سپما کوي، احتياج شوی نه دی.

۶. د دندې په ســرته رســولو کې زيار او هڅه: د ټولنې هر وګړی دنده لري، هغه کار چې ورته وســپارل شي، په ښه توګه سرته ورســوي، مثلاً زده کوونکي چې دنده يې لوستل او زده کــول دي، بايد په خپلو لوســتونو کې زيار وباســي. هغه کارګر چې پــه فابريکه کې کار کوي، دنده لــري چې د توليداتو په زياتوالي کې زړه سواندی کوښښ وکړي، چې د توليداتو لپاره د ټولنې اړتيا پــوره کــړي. خلک او دولت متقابلې دندې لري، له متقابلو دندو او مرســتو پرته د نېکمرغه ژوند

دوام ناشونی دی.

له ښاروالۍ او خپلو ترافیک پولیسو سره ملګري واوسو. د ښار د پاکوالي په برخه کې هڅه وکړو. د خپل کور تر څنګ ونې کېنوو. د سړکونو، ویالو، پارکونو او عمومي باغونو تر څنګ خځلې وانه چوو، بلکې په خپلو ټاکلو ځایونو کې واچوو. که چېرې ګاونډي او یا نور څوک خځلې د کورو تر څنګ په ویالو کې اچوي، په پوره درناوي ورته باید ووایو چې خځلې په خپل ځای کې واچوي. په باغچو، د کور او د خپل ښوونځي په شاوخوا کې ګلان وکرو او ښه ځارنه یې وکړو. ونو ته زیان ونه رسوو. که موټر چلوونکي واوسو، د موټر چلولو رسمي اجازه لیک واخلو. د سړک په هر ځای کې ونه درېږو، ترافیکي قوانین مراعات کړو.

فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. یوه ډله دې له حکومت سره د خلکو د مرستې په هکله او بله ډله دې د دولت د مسوولیتونو په هکله خبرې وکړي او پایله دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

ارزونه

۱. له حکومت سره د خلکو د مالي مرستې ډېره ارزښتناکه لاره په کوم ډول سرته رسېږي؟

۲. د سیما په هکله د پیغمبر ﷺ حدیث له ژباړې سره ولیکئ.

۳. خلک باید له دولت سره څنګه مرسته وکړي؟ په دې برخه کې معلومات وړاندې کړئ.